دجلال اباد په جنوب لویدیځ کی درژیم ۸ پوستی فتحه شوی

ننگرهار ، میډیا :
میډیا دننگرهار ولایت څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دمیزان په وروستی‌اونۍکښ‌دجلال اباد ښار په جنوب ختیځه خوا دښمر خیلو سره نژدی دگردی کڅ په سیمه کی درژیم ۸ پوستی فتحه کړی اورژیم ته یی درانه تلفات وراړولی ، دغه راز دقوماندانانو شورا رپوټ ورکړی چی د حقي لارې‌مېړنیومجاهدینو دښمر خیلو پر فرقه باندی دیوه چریکی برید په ترڅ کی درژیم ۳ عردای فعال ټانکونه په غنمیت نیولی .
رپوټ وایی جگړه دوام لری ،اودکابل جلال اباد لویه لاره دترافیکو پر مخ بنده ده .

هفته نامه

جهادهنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

«کاروال» و«گلاب زوی» از روسیه اخراج شدند

کابل ، میدیا :
بگزارش خبر نگار اعزامی میدیا ازشهر کابل ، بدنبال ناکامی کودتا درروسیه وتصمیم مقامات رهبری روسیه دایر براخراج جنایتکاران بی گانه پناهنده دران کشور میر صاحب کاروال وسید محمد گلاب زوی دوتن از جنایت پیشه های کمونست کابل نیز از آنکشور اخراج گردیدند.
خبرنگارمربوطه نقل از ناظران اگاه می افزاید ، چون که میر صاحب کاروال و سید محمد گلاب زوی متهم به دست داشتن در کودتای ناکام اخیر علیه نجیب بودند ، ازامدن به کابل ابا ورزیده اند گرچه تاکنون محل بودوباش آنها معلوم نیست ولی گمان میرود که شاید به جمهوری المان فدرال پناهنده شده باشند .

دوهم کال - شپږمه (پرله پسي ۵۸مه) گڼه ، چهارشنبه د ۱۳۷۰هـ ش دعقرب (۱) نیټه ، د۱٤۱۲هـ ق دربیع الاخر(۱۵مه)اود۱۹۹۱م کال داکتوبر ۲۳مه

سه قریه و ۱۱ قرارگاه نظامی درولایت بغلان به تصرف مجاهدین درامد

۱۲۰ تن ازعسکر و ملیشه رژیم مزدور به هلاکت رسید

درصفحه (۸)

الحاج مولوي جلال الدین «حقاني»د«میډیا »له خبریال سره په مرکه کې:

روسان غواړي دخالقیار په غیر گوندي معرفي کولو سره په راتلونکي حکومت کي دهغه تر سیوري لاندي خپلو کمونستو مزدورانو ته پناه ورکړي

په ۲ مخ کي

حمله موفقانه مجاهدین در تنگی ابریشم

دیپوی مشتمل بر ٤۰۰۰ فیر راکت اوراگان منفجر گردید

درصفحه (۷)

نامه وزیر خارجه عراق‌عنوانی سرمنشی ملل متحد

درصورت تکرار تجاوز هوایی اسرائیل هوا پیماها هدف گلوله قرار خواهد گرفت

درصفحه (۷)

په اسرائیلو کی د روسیی سفارت مخی ته دمیشته یهودیانو قطارونه

روسي یهودیان له نیول شویو عربي سیمو څخه په تیښته دي

په(۷) مخ کي

په گردیز کې دبرمیالو مجاهدینو نوې سوبه

دسروري ستراتیژیکه قرارگاه فتحه شوه

په ۷ مخ کي

رئیس عمومی سیاسی اسبق اردوی کابل به المان فرار کرد

خبرنگار اعزامی میدیا از کابل گزارش می دهد یاسین صادقی سابق رئیس عمومی امور سیاسی اردو که اخیراً سمت ریاست نفت وگاز شبرغان رابعهده داشت به المان فرار کرده است .
طبق گزارش خبر نگار میدیا وی که از همدستان نزدیک ببرک کارمل بود اخیراً از طرف نجیب وطرفدارانش بشدت تحت فشار قرار گرفته بود وسرانجام با احساس خطر فرار رابر قرار ترجیح داده به صف مقامات فراری حزب کمونست در خارج قرار گرفت .
یاسین صادقی که رتبه جنرالی داشت در دوران ببرک کارمل از قدرت زیادی برخور دار واز حامیان سرسخت دوستی با روسیه بود .

ارسال اسلحه جدید از جانب روسیه به کابل ادامه دارد

استفاده رژیم از ماین های کمپیوتری درگردیز

درصفحه (۷)

دگردیز دقول اردودقوماندان عسکري صاحب منصبانو او مامورینو په نوم دالحاج حقاني پیغام

په ٦ مخ کي

سرمقاله

آیا روسیي ته دمجاهدینو دهیئت تگ له جهاد اواسلامي انقلاب سره جفا نه ده؟

په ایران کی دافغانستان دقضیی دحل په اړه دپاکستان ، ایران اوځینوغیر موثرو جهادی تنظیمونو داستازیو په گډون ددری اړخیزو خبرواترودویم پړاو په غونډه کی پریکړه شوی وه چی دمجاهدینو یو هئت دی له روسانو سره دمستقیمو خبرواترو لپاره مسکو ته لاړشی ، ددغی پریکړی نه څو ورځی وروسته بیاداسی څرگندونی وشوی چی روسانو په پاکستان کی دخپل سفارت له لاری دمجاهدینو هیئت ته بلنه ورکړی چی مسکو ته ورشی. په دی لړکی تردی دمخه هم روسانو دمجاهدینو هیئت ته دغسی بلنه ورکړی وه ، او دروسیی دبهرنیو چارو وزارت مرستیال اودافغانستان دچارو مسوول کوزیروف په مشری یو هیئت له مجاهدینو سره دخبرو اترو لپاره اسلام اباد ته راغلی ؤ.
داچی روسان په سیاسی اودیپلوماتیک ډگر کی ددغه ډول شومو هلوځلوترشا څه ورپټ اوښکاره اهداف اواغراض لری ځانگړی مسله ده ، چی دلته پری بحث اوخبری زموږدځیړنی لاندی موضوع سره اړخ نه لگوی ، موږ دلته دروسانو ددغی

په ۸ مخ کي

په روسیه کی ۲۰ میلیونه خلک داوسیدو ځای نلری

په راتلونکی ژمی کی ده۱ لکو انسانانو دمړینی ویره شته

په ۸ مخ کي

په گردیز کې مکار دښمن دماتي اوگریز په حال کي

دکفر پر ځالو دمجاهدینو برمیال بریدونه دوام لری

په ۳ مخ کي

دهند داترپردیش په ایالت کی دبم دوه چاودنی

دچاودنو په نتیجه کی ٤۲ تنه مړه اوپه سل گونو نور ټپیان شول

په ۷ مخ کي

دهند په اترپردیش ایالت کي هیبت ناکه زلزله

۵۰۰ کسان مړه اوزیاتی سیمي تر ځمکي لاندې خښنی شوي

په ۸مخ کي

موږ دوسله وال جهاد له لاري پرخپل بري ډاډه یو ، هیڅاته داحق نه ورکوو چې پر موږ دخپلي خوښي حکومت تحمیل کړي
« الحاج حقاني »

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دافغانستان قضیه او د روسیې دوه مخی سیاست

سمیع الله «تازه»

په افغانستان کی دی روانی جګړی زموږ دهیواد په کورنیو چاروکی دروس دکمونستی نظام دمستقیمی او غیرمستقیمی لاسوهنی څخه سرچینه اخیستی او هر څومره چی داجګړه دوامداره‌کیږی داښئي چی روسان لاهم زموږ دهیواد په چارو کی جدا لاسوهنه کوی .

دافغانستان دجګړی په پوځی ډګرکی دروسانو ترشرمیدلی پوځی ماتی وروسته روسانو داغوښتل چی په خپل لاس کینښولی رژیم سره دپوځی مرستی له لاری زموږ په هیوادکی دجنګ دجاری ساتلو په وسیله دمجاهدینو په لاس دیواسلامی نظام دجوړیدو مخنیوی وکړی او دی کارته سره له دی چی دافغان مسلمان ملت جهاد دکمونیزم په ککری باندی مرګونی ګوزاروړکړ لاهم د وام ورکوی ، داځکه چی روسان پدی داریږی که چیری دروس تراشغال لاندی اسلامی جمهوریتونوپه جنوب یعنی افغانستان کی یو اسلامی حکومت منځ ته راشي لکه څنګه چی جهاد یی تاثیرلرلی نو حکومت به یی هم په هغه ځای کی داسلامی غورځنګ په پیاوړتیا کی مرسته وکړی .

پدی علت روسان تر وسه وسه کوښښ کوی چی درنګ په رنګ دسیسو او تو طیئو په کاراچولو سره زموږپه هیواد کی جګړه دوام وموی تر څو روسان وکړای شی دروس په اسلامی جمهوریتو نو کی داروان پاڅونونه او غورځنګونه وځپی .

روسان ظاهراًچیغی وهی چی نوی دافغانستان دمسئلی سوله ایز حل غواړی خوږدی ترشادکابل رژیم دسمبالولو له لاری هڅه کوی چی دا جګړه لا هم سخته او اوږده شی . روسانو دافغانستان دمسألی په اړه تل دوه مخی سیاست پرمخ بیولی دی له یوی خوا ځان په افغانستان کی دسولی دراوستو مینه وال ښئي خو دبلی خوا زموږ په هیواد کی دخپلو خلقی او پرچمی نوکرانو په وسیله دخپلو شوموماو ناروا ګټو دتر لاسه کولو لپاره په یوه او بله بڼه هڅی کوی .

روسانو په وروستیو وختوکی دخپلو دوه فقره یزوړاندیزپه ترڅ کی داوښوده چی دوی نور نه غواړی دافغانستان د مسئلی دسوله ایز حل دجریان په ترڅ کی په انتقالی دوره کی دکابل دړژیم درئیس نجیب په رول ټینګار وکړی ځکه جهادی قوتونه پدی متفق دی چی دکابل رژیم اوسنی مشر دی په انتقالی دوره له خپلی وظیفی ګوښه شی او روسانو دامنلی وه ، خو اوس روسان بیاوایی چی هیڅکله یی دانده منلی چی نوی به پرنجیب فشار راوړی چی دانتقالی دوری په موده کی له کاره ګوښه شی او داپخپله نجیب پوری اړه لری چی پدی برخه کی تصمیم ونیسی .

همدا راز روسانو وایی چی امریکایانو ته یی ویلی چی که نوی غواړی نجیب په انتقالی دوره کی له کاره ګوښه شی باید نوی پخپله له نجیب سره خبری وکړی .

پدی کلیماتو کی ډیره مهمه سیاسی نکته پرته ده او هغه داده چی روسان لااوس هم په سیاسی نیرنګونو غواړی دکابل منزوی او رټل شوی رژیم له پاره سیاسی هویت پیداکړی او داچی روسان غواړی امریکایان دی مخامخ دمزدورنجیب له رژیم سره خبری وکړی، دامخکی ویل شوی موضوع په ډاګه کوی که دغه کار عملی شی او یانه خو دا ورڅخه څرګندیږی چی روسان به هیڅکله دکابل رژیم له ملاتړ څخه لاس په سرنشی او داسی ښکاری چی روسان په مسکو کی دکمونستانو دکودتا له ناکامی وروسته لاهم په افغانستان کی خپله پخوانی مداخله ګرانه سیاست ندی پریښودلی .

دروس دڅرګندونی پداسی وخت کی کیږی چی له یوی خوا دځینو غیرموثرو ډلو هیات مسکو ته دتګ تیاری نیسی اوله بلی خوا دمجاهدینو څلورو ځواکمنو تنظیمونو مسکوته دهیئات تګ دځینو دلایلو له مخی ردکړیدی . دروسانو وینا مخکی له مخکی داښئي چی دمجاهدینودهیات سفر به څه خاصی نتیجی ونلری . لکه څنګه چی معلومه ده له روسانو سره په نیویارك کی دمجاهدینو له هیات له کتنی نه دا خو شبینی حاصله وه چی روسان به‌دافغانستان دمسئلی دحل په غرض دکابل رژیم څخه چی دمسألی دحل د لاری لوی خنډ دی لاس واخلی ، خو اوس څرګندیږی چی روسان پخپل پخوانی دریځ یعنی دمزدور نجیب درژیم په دوام ټینګارکوی .

خواصلی خبره داده چی داټول په اصطلاح «دپیشواو موړك لوبه » په موږ ځکه کیږی چی دمجاهدینو هغه ځواکمن اوپیاوړی قوت چی روسانوته یی ماته ورکړه اوس دجهادی قیادت دنفاق په وجه کمزوری شویدی او دښمن هره ګړۍ زموږ دقدرت او طاقت په پرتله له موږ سره خبری کوی . هغه وخت چی موږ ډیر قوی وو روسانو صرف داغوښته چی دکابل رژیم کمونستانو ته دی یوازی دسرپناه ورکړی شی خو

په ۷ مخ کي

روسان غواړي دخالقیار په غیر ګوندي معرفي کولو سره په راتلونکی حکومتکې دهغه تر سیوري لاندې خپلو کمونستو مزدورانو ته پناه ورکړي

الحاج مولانا جلال الدین حقانی په مطبوعاتو کی دخپری شوی اوازی په اړه چی ګنی دروس دګوډاګی رژیم اوسنی صدراعظم فضل الحق خالقیار غیر ګوندی اوغیر کمونست دی دمیډیا خبریال دپوښتنی په ځواب کی وویل چی: خالقیار دکمونست ګوند غړی اودنجیب په شان په عامه توګه دټولو افغانانو اوپه خاص ډول دهرات دخلکو یواځنی جلاد دی او دده په امر په زرګونو مسلمانان اوبی ګناه خلك شهیدان شوی نودابه کوم بی وقوفه مسلمان او مجاهد وی چی دروس اوامریکا په اشاروبه دافغانستان دمسئلی دحل لپاره دکمونست خالقیار سره په ائتلافی اوشریك حکومت کی برخه اخلی.

حقانی صاحب وویل:که دکوم مجاهد او مسلمان په فکر خالقیار سره له دومره جنایاتونو مسلمان اوغیر کمونست وی نو متل دی چی وایی «چی دګجرات هندوانو ته دشنکنګ هندوان بزرګان دی » نو زما په خیال باندی دنجیب سره دی حکومت جوړ کړی ځکه چی دنجیب او خالقیار تر منځ څه تفاوت دی.

حقانی صاحب زیاته کړه :دخالقیار تش په نامه غیر ګوندی توب دنجیب او روسانو له خوا ګډه دسیسه ده ترڅو په راتلونکی عبوری حکومت کی کمونستانو ته دخالقیار ترسیوری لاندی پناه ورکړی اودهیواد په کورنیو چاروکی دپخواپه شان دروسانو لاس وهنی دوام وکړی .

حقانی صاحب اخطار ورکړ چی دخالقیار سره دشریك حکومت غوښتونکی تش په نامه مجاهد کسان به زموږ دړزی نسبه وی حقانی صاحب دافغانستان دمسئلې دحل اساسی لار جهاد وباله او ویی ویل چی جهادی تنظمیونو رهبرانو باید دیو واحدحل اودملت دسرنوشت ټاکلو لپاره په یوه طرحه کار کړی وای له بده مرغه دوی پوره څه ونشو کړلای .

> **حقاني صاحب پیشنهاد وکړ: په اوسنیو شرایطو کي باید دسترو جهادي قوماندانانو جیدعلماو دتنظیمونو مخورکسانو اودجهادپلوي روشنفکرانو څخه یوه لویه حل شورا رآوغوښتل شي**

الحاج حقانی پیشنهاد وکړ په اوسنی شرایطو کی باید دسترو جهادی قوماندانانو جید‌علماو دتنظیمونو مخورو کسانو او دجهاد پلوی روشنفکرا نوڅخه یوه لویه شوری راوغوښتل شی بیا دی ددوی دمنځه دانقلابی شورا یا اجرائیه شورا غړی وټاکل شی بیا دی دملی شورا غړی وټاکل شی اوهغه دی یو مؤقتی اسلامی اوشرعی حکومت جوړکړی او انقلابی یا اجرائیه شوری غړی چی دتصمیم ګیری اصلی مرجع ده دمؤقتی حکومت دعمومی کارونو څارنه اونظارت دی وکړی .

دغه شان مولوی جلال الدین حقانی په ګردیز باندی دمجاهدینو د اوسنیو عمومی عملیاتو په اړه دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل : په ګردیز

په ٦مخ کي

دمنځنی آسیا اسلامي هیوادونه او دافغانانو جهاد

دسید شهریار ژباړه

کمونستي نظام دانساني فطرت ، سلیم عقل ، اودنړۍ دټولو ادیانو او مذاهبوضد ظالمانه او جابرانه نظام دي ، چي بنسټ یي دلوي خداي (ج) دوحدانیت څخه په انکار ، عداوت ، نفرت او په ځانګړی اوټولنیزه توګه په عیاشی او فحاشی خوړولو کیښودل شوي دي ، همدغه عوامل دی چی تراوسه پوری په یوه ځای کی هم چا پخپله خوښه او رضا ندی منلی .

په معاصر تاریخ کی دټولو نه لومړی کمونستی انقلاب کمونستانو په روسیه کی په ۱۹۱۷ م کال کی پیل کړ چی دتزاریانو تخته یی چپه او داقتدار په ګدۍ کیناستل .

دغه خونړۍ کودتا نه هیریدونکی فاجعه اوظلم او بربریت یوداسی خونړی اوله شرمه ډك داستان دی چی تزاریان اوجنګیزیان یی پخپلو ظلمونو پوری وشرمول، په افغانستان باندی دپوځی یرغل تر وخته پوری چی روسی کمونستانو دنړی په بیلابیلو برخو کی دمظلومو پرګنو څومره وینی وڅښلی ، او غوښی اوهډوکی یی وشپیلول یو اوږد داستان دی چی روسان یی خپله ستره کامیابی بولی .

> **دروسانو دناپاکه تسلط څخه مخکي ددغي خاوري یوه برخه هم دیني مدارسو اودیني خیرنځایونو څخه خالي نه وه یواځي په بخارا کي اته سوه مدرسي وي چي پکي ۴۰ زرو طالبانو مفتي زده کړي حاصلولي**

روسانو یواځی دعالم اسلام ۲۸ لکه او ٦۰ زره کیلو متره خوری وری پر نفوسه سیمی له ستونی تیری کړی چی پکی دازبکستان ، تاشقند ، ثمر قند ، بخارا ، فرغانی ، خیوا ، تاجکستان ، تر کمانیی ، قرغزیه قازقستان ، داغستان ، اذربایجان اوداسی نور بی شمیره واړه اولوی ښارونه چی دپیړیو پیړیو څخه ددینی علومو اواسلامی فرهنګ مرکزونه وُ ، دکفری فرهنګ اوکلتور ځایونه وګرځول.

(دماوراءالنهرسمیه):
ماوراء النهرعربی لفظ دی چی معنی یی د«دریاب هغه غاړه »دلته دالنهرنه مراد دامو سیند دی چی پخوا جیحون نومیده دغه سیند افغانستان او دمنځنی اسیااسلامی هیوادونو سره بیلوی دامو سیند جنوب خواته افغانستان او شمال خواته یی تر مذ بخارا او ثمرقند پراته دی ، دغه سیمه داسلامی تاریخ دنه هیریدونکوشخصیتونو ټاټوبی وُ.

له همدغه ځایه څخه لوی لوی محدثین ،مفسرین ، دفقی مجتهدین ویاړلی مسلمانان ، سائنسندانان ، حکمیان فیلسوفان مشهور حکمرانان پوځی جنرالان نابغی اونور بابرکته اولیاءالله راپورته شوی دی چی نن هم دهغو دکوښښونو اوخیر نو له برکته دمسلمانانو ددینی علومو ذخیری دمرغلرو او یا قوتو څخه ډکی دی .

دحدیثو اوفقی مشهور عالم اوفاضل حضرت عبدالله بن مبارك(رح)د(صحیح البخاری) مولف امام بخاری (رح) د(جامع ترمذی) مولف امام ترمذی (رح) ابومنصور ماتریدی (رح) .ابو نصر فارابی اودابن سینا په څیرحکما اودشیخ خواجه بهاالدین نقشبندی په څیر دلویو اولیاوُ مسکن هم همدغه خاوره وه چی داسلام دخدمت لپاره یی پکی سترګی غړولی وی .

دروسانو دناپاکه تسلط څخه مخکی ددغی خاوری یوه برخه هم ددینی مدارسو اودینی څیرنځایونو څخه خالی نه وه یواځی په بخارا کی اته سوه مدرسی وی چی

په ٦مخ کي

په گردیز کې مکار دښمن دماتی اوگریز په حال کې

درا پور تهیه کوونکي : ننگیال عکاسي : احمد سینا «احمدي »

په تیرپسي :

دجگړی دقوماندی په عمومی مرکز کی الحاج مولوی نظام الدین حقانی دعملیاتو په رابطه دخپلو توضیحاتو په لړکی وویل : پر گردیز دعملیاتو پیل دتوپچی دانداخت پواسطه ترسره شو نژدی دری ورځی دتوپچی انداخت روان وخو منظم تعرض ددوشنبی په ورځ په ۱۳۷۰/۷/۸ نیټه دلیوس له لوری شروع شو ، دلیوس اومیلن په استقامت ددښمن پوستی فتحه شوی ، دغه حمله دابوجندل غونډ مجاهدینو دقوماندان نیك محمد په مشری او دجهاد وال غونډ مجاهدینو دفیض محمد په مشری اودقوماندان سردار مجاهدینو په گډه ترسره کړه دنجیب کلا او شاخوا پوستی یی هم فتحه کړی اوپه میلن کی یی تر شیخانو پوری ددښمن ټولی پوستی او سنگرونه فتحه کړل .

دسه شنبی په ورځ دستو کنډو محاذ مجاهدینو دټانك پوستی اودمکتب دری پوستی په ډیر لږ وخت کی فتحه کړی ، پر سبایی دازغن دسراو جماعت پوستی اودغویگری لاندی پوستی هم دالله تعالی په نصرت فتحه کړی لدی سره دبنوزیو قرارگاه چی د۶۷ غونډ قرارگاه وه هم فتحه کړه او تر حلیم کلا پوری مجاهدینو پرمختگ وکړ .

ددښمن دمهماتو یوه لویه ډیپو چی ددولت زیو په سیمه کی دحلیم کلادپله سره موجوده وه دمجاهدینو دانداخت له امله اور واخیست ،اوددښمن دتیلویو ذخیره هم وسوځیده ، ۲ زرهپوش ، او۲ ټانکونه اوزیات موټر پکی له منځه ولاړل .

مولوی صاحب ددښمن دهغو درندو اوسپکو وسلو اومهماتو احصائیه وړاندی کړه چی له دښمن څخه نیول شوی او موږ دخپل ریوټ په مخکی برخه کی هغه ذکر کړیدی ، مولوی صاحب دمجاهدینو دشهیدانو اوزخمیانو په رابطه وویل ، په جگړه کی دمجاهدینو له خوا تراوسه ۱۵ تنه شهیدان او ٤۰ تنه زخمیان شوی دی

محترم مولوی صاحب دخپلو خبرو په جریان کی وویل : دسیدکرم طرف ته هم مجاهدینو ددښمن دری پوستی فتحه کړیدی ، دزرمت په استقامت هم دکواس طرف ته دسروړی په څنگ کی دخوا ځکو طرف ته ددښمن ډیری پوستی فتحه شوی ، دنیازیو کلا پوستی هم فتحه شوی همدارنگه دچگان په نوم پوستی هم فتحه شوی دغه ټول فتوحات دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ مجاهدینو کړی دی .

دختاوی په ابراهیم خیلو کی هم دری پوستی فتحه شوی . دعمری غونډ له مجاهدینو څخه په پورتنیو بریالیو عملیاتو کی ٦ تنه شهیدان او نژدی ۳۰ تنه زخمیان شوی دی .

همدارنگه دحضرت بلال غ غونډ قوماندان امین الله خان ، په تیره کی ددښمن په یوه کاروان برید کړی او څو ورځی یی لاره بنده کړی وه . دزرگل تنگی اوازری مجاهدینو هم دتیری په شرقی حصه کی دری څلور پوستی فتحه کړی.

محترم مولوی صاحب ددغه پوښتنی په ځواب کی چی آیا

دجهاد نامتو اتل ډاکټر نصرت الله دجگړي په لومړي لیکو کې

تاسی دجگړی له جریان او دمجاهدینو له پرمختگونو څخه مطمین یاست که څنگه وویل :

زه پدی مطمئن یم چی انشاالله گردیزبه فتح کیږی که څه هم زموږ مشکلات زیات دی خو مجاهدین دالله تعالی دمرستی اونصرت له مخی پر مخ روان دی زموږ داپلان دی چی له ټولو طرفونو څخه په یوه وخت تعرضی عمیات پیل شی ،او همدارنگه دلاری بندولو پلان هم لرو اوکه داکارونه وشی نو انشاالله دمجاهدینو کامیابی بالکل یقینی ده .

ددښمن دنیول شویو اوتسلیم شویو عسکرو یوه تن چی ځان یی رحمت الله دالله نظر زوی اودمزار شریف دشولگرې ولسوالی اوسیدونکی معرفی کاوه وویل :

(۷۰) ورځی کیږی چی زه یی عسکری ته په زور نیولی یم ، لدی څخه می ٦۰ ورځی په کابل کی دتجمع په مرکز کی تیری کړی ،اوپنځه ورځی می دکابل دریشخورو په دریم لمبر لوا کی وتلی دی فقط پنځه ورځی کیږی چی گردیز ته یی راوستلی یم .

ده زیاته کړه زموږ په لوا کی ۳۲۰ عسکر و چی زیاتره یی په زور نیول شوی وو زموږ دلوا قوماندان معین خان نومیده او رتبه یی دبرید جنرال وه.ده وویل : کله یی چی موږ شپی لخوا گردیز ته راورسولو نویوی کلا ته یی داخل کړو پدغه وخت کی دمجاهدینو سخت انداخت روان و دمجاهدینو دډزو له امله لس تنه مړه او له ۳۰ څخه زیات زخمیان شول پدغه پنځو ورځو کی یی موږ ته قروانه په محاربوی ماشینونو کی راوړه خو پداسی اندازه چی هیڅ کفایت یی نه کاوه .

ده وویل کومی سیمی ته چی موږ راوړل شوی وولدی ځای څخه کډی په وتلو وی اودکابل په لار دکهو بهیر روان وو.

ده مجاهدینو ته دتسلمیدو کیسه داسی بیان کړه،موږ هره لحظه پدی فکر کی وو چی څه ډول له دی دوزخ څخه ځانونه وباسو ، زموږ څلورو تنو ملگرو له موږ نه یوه ورځ مخکی ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړل بله ورځ چی زموږ دټولی قوماندان چی نوم یی قنداغا و موږ ته دوراندی تگ قومانده راکړه کله چی لږ مخکی ولاړو ناڅاپه یی دپروت امر وکړ موږ پروت وکړاودی له دوو تنو محافظینو سره شاته وگرځیده یی وویل : زه نور عسکر راولم تاسی همدلته اوسی هغه چی بیرته وگرځیده موږ شپږ تنه دیو میل راکټ یو پیکا اوڅلورو

دجنوبي محاذونو اتل قوماندان الحاج حقاني په مورچل کې دخبریالانو پوښتنو ته ځوابونه وایي

میلو کلاشینکوفونو سره مجاهدینو ته تسلیم شوو.

نوموړی دگردیز دقواوو دمورال اونظم په هکله وویل : ددولتی قواوو مورال ډیر ضعیف دی عسکر چون په زور نیول شوی نه غواړی جنگ وکړی اوهمیشه پدی لټه کی دی چی مجاهدنو ته تسلیم شی دعسکری نظم هم څه درك نه لگیږی ، نوکه عسکر بیله دی چی لازم زده کړه ورکړل شی بس یوازی هغوی ته داقومانده ورکوی چی انداخت وکړی اومجاهدینو ته تسلیم نشی اوکه تسلیم شی نو هغوی یی وژنی .

دمیزان میاشتی په ۱۷–۱۸ او ۱۹ نیټه هم ددښمن سختی بمباری روانی وی ، دبنوزیو قرارگاه چی مجاهدینو له ډیرووسلو اومهماتو سره فتحه کړی وه له هغی ځای څخه دمجاهدینو زغروال ځواکونه دپرمختگ په حال کی وو ، که څه هم مجاهدین ددښمن ددرندو وسلو تر مسلسل انداخت لاندی وو خو لدی سره سره یی خپل پرمختگ جاری ساته او دنویو مورچو په جوړولو اوټینگولو مصروف و.

مجاهدینو خپل زغروال ځواکونه دهر اړخیزی حملی لپاره په مناسبو ځایونو ځای پر ځای کوی اودتدارکاتی اواکمالاتی لاروپه جوړولو اودیوه ستر اویو مخیز تعرض دپلان پر تطبیق کار کاوه که څه هم له جنوبی محاذ څخه مجاهدینو کولی شول ښارته په بریالیتوب سره داخل شی خو دیوه څلور اړخیز تعرض لپاره دخپلو قوتونو په موثر سمبالښت لگیا وو.

دمیزان په ۱۷ نیټه دقوماندی په عمومی مرکز کی الحاج مولوی جلال الدین حقانی دیوه بهرنی خبریال دپوښتنی په ځواب کی دگردیز دجگړی په هکله وویل : داطبیعی خبره ده چی موږ باید دخوست له فتحی وروسته پر گردیز حمله کړی وای ، ځکه دگردیز په فتحه کیدو ټوله پکتیا ازادیږی

زه پدي مطمئن یم چي انشاالله گردیز به فتحه کیږي ، که څه هم زموږ مشکلات زیات دي ، خو مجاهدین دالله تعالي دمرستي اونصرت له مخي پر مخ روان دي.

«الحاج مولوي نظام الدین حقاني»

، بله داچی دکابل رژیم لپاره دمدافعی اول سنگر خوست او دوهم گردیز دی لدی علاوه دکابل له امنیتی کمر بند پرته بل کمربند اوحامل نه پاتی کیږی .

موږ له دښمن څخه خوست پداسی شرایطو کی ازاد کړچی په مسکو کی دنجیب حامیان یعنی کی ، جی، بی اونور ښه په قدرت مسلط و او هغه وخت کی ، جی ، بی په ټولو ساحو کی ښه فعاله وه اوس چی کمونیزم هم ختم شواو روس هم په خپل غم کی اخته دی اونشی کولی نجیب لکه دپخوا په شان حمایه اوپالی ، دگردیز دفتحی په هکله زه دالله تعالی (ج) ته ډیر امید واره یم .

دنوموړی خبریال ددغه پوښتنی په ځواب کی چی موږ فکر کاوه په گردیز دټولو جهادی قوتونو او تنظیمونو له خوا گډه حمله شوی خو موږ ولیدل چی یوازی ستاسی مجاهدین جنگیږی موږ دنورو تنظیمونو او گروپونو مجاهدین ونه لیدل حقانی صاحب وویل : داسی نه ده دنورو تنظیمونو مجاهدین هم په جگړه کی برخه لری خو څرنگه چی زموږ مجاهدین په نظامی اوعسکری تشکیلاتو کی منسجم شوی اوزموږ پنځه غونډونه دټولو نظامی تشکیلاتواوتاکتیکونو اواساساتو له مخی محاربوی فعالیتونه کوی او آزاد جبهات مو هم خاص پوځی نظم لری اوپدی کی موږ دتعرض لپاره بیل قوتونه ، دحمایی اودفاع لپاره بیل ، دمخابری ، توپچی ، لوژستیك اوغنمیت دساتنی اوهمدارنگه نورو

پاتې په (٦) مخ کی

جهادي ادب

هیطان دي ترهیدلي مسلمان په مخه کړي
الحاد ګوره عدم ته چي افغان په مخه کړي
تکبیر مورته زیري دمرګونو نه شوځه شو؟
ستر روس تهوتهه توته شو اوتوپان په مخه کړي

شعار بدل دی !

ساجد

دانن چی واددی ، هغه وخت خاد ؤ
مشر افسر یی ، نجیب جلاد ؤ
دیر و بی رحمه ، قاتل خوانخوار ؤ
غلیم ددین ؤ ، هم دهیواد ؤ

***

خاد نوم داورو ، هستی ایری شوی
خاد نوم دمرګ ؤ ، مینی سپیری شوی
خاد نوم دویرؤ ، فضا ویر ویرشوه
دمرګ په ساز کی ، ساندی خوری شوی

***

خاد نوم دغم ؤ ، کار یی وحشت ؤ
ورته اسانه ، هر جنایت ؤ
وینی ارزانی ، وی توئیدلی
بازار ښه ګرم دشهادت ؤ

***

ګیر ته ورغلی ، چی کوم کسان وو
ماشومان وو ، هم بوډا ګان وو
هم ناریه وو ، هم وی تور سری
مرګ ته خوشحاله ، په ژوند پریشان وو

***

میاشتی کلونه ، واوښتل تیرشول
دیر بدلونونه هم رابرسیر شول
دخاد ظلمونه به تل یادیږی
ګومان ونه کړی ، چی هغه هیر شول

***

لږ در په یاد کړه هغه کلونه
دخاد په وخت کی ستر وحشتونه
چی لوټول دی ، چی ورانول دی
زموږه کلی ، زموږ ښارونه

***

شعار دی سوله ، قتلونه کاندی
په زړه لاکوږیی ، په خوله چی خاندی
لاپه اورسوځی ، په وینو رنګ دی
واړه هیواد می ، ټول لاندی باندی
نظام همغه ، شعار بدل دی
هغه نجیب دی دشرف غل دی
لهجه بدله ، کړه وړه همغه
کاړه نیتونه ،کوږ یی هرپل دی

قبای زندګانی چاك تاکی
همچوموران آشیان درخاك تاکی
به پروازي اي وشاهيني بيا موز
تلاش دانه درخاشاك تاکی

علامه اقبال لاهوري

ننګیالي اوخاطري يې

نن دیوه ښل افسانوی پهلوان مخی ته ناست یم !
نه نه ! افسانوی نه ! درښتینو کیسو او حادثو دیوه ښل قهرمان مخی ته ! زموږ دغه اتل دحادثو شاهد دی ، دیوه مظلوم ملت پر سر دوحشتونواو تاړاکونو شاهد !
زموږ دمجاهدملت دتوری ، میړانی اواتلولی ګواه دی ، له یوه وحشی پوځ سره دیوه تش لاسی ملت دلاس اوګریوان مقابلی شاهد .
هغه نن په وجود کی نیمګړی دی ، ډیر نیمګړی ، دهغه له بدن نه ډیری غوښی اوهډوکی جلا شوی دی ، غبرګی پښی یی په زنګونو کی غوڅی دی ، خو دحادثو قهرمان بیا داسی بی پروا دی لکه یو ویښته یی چی کم نه وی دهغه اراده تکل او عزم لاپوخ شوی ، ایمان یی لا مضبوط شوی اوپه همدغه نیمګړی ځان ددی ارزو کوی چی یو ځل بیا دغرواو تکرو دګر ته رسیدلی وای ، یوځل بیا ی دجهاد ټوپك پر اوږه اودعظمت تکبیرونه پرخوله وای ،هغه په خپله قربانی باندی نازاوویاړ کوی خوله دي سره لږ لړاندیښمن هم دی هسی نه چی په پټو سترګو یی څوك په قربانی له دښمن سره دمعاملی په میز کښینی هوکی ! له ښو نه محروم دی دخپلواکی اواسلام په لاره کی خوکه یی اسلام اوخپلواکی هم نه وی نو بیا به دداسی مظلومو فریادیوازی خدای (ج) اوری ویی پیژنی !
نوم می نری دګل صاحب زوی دخوست اوسیدونکی یم ، پنځه میاشتی وړاندی دخوست له فتحی نه وړاندی مو دځاځی میدان دجوګی پوسته فتحه کړه پر باك علاقه داری مو عملیات کول چی ددښمن توغندیو تر برید لاندی راغلو ، یوه دبی ام ۱۳ مرمی لنډه راته ولګیده ، ۷۳ ځایه ټپی شوم اوبیا می دواړه پښی غوڅی شوی .

زه ولي مسلمان شوم؟

زه چوپه شوم نو په ډیره ارامی او اطمینان یی ځواب راکړ :
« قدرمني صاحبي ! داټول دخدای (ج) دتقدیر لوبی دی ، خدای (ج) چی څه راکړی وو بیرته یی واخستل ، په دی نو زموږ څه کار دی، موږ نو په دی زړونه ولی بدوو ؟ بنده خو په هر حالت کی باید دخدای (ج) شکر ادا کړی .
موږ مسمانانو ته خو داامر شوی دی چی دالله (ج) په رضا صبر کوی »
میرمن بارنس دکیسی په ماحول کی ورکه وه ، هغی ښی لاس پورته کړ اوپه ژړه غونی اوازیی وویل :
ډاکتر صاحب ! دبوډا دغه ځواب ماته دقتل زیری ؤ ، هغه خپل لاس اسمان ته پورته کړی و خو له لاس نه یی نشتر جوړشو ، او زما په زړه ننوت ، ماددغه کمزوری بوډا قوی ایمان ته دتل لپاره سر خم کړ ، زما باوړشو چی دبوډا دغه دادمن زړه کوم مصنوعی حالت نه دی بلکی حقیقی دی ، هغه نور په کلی کی یوازی پاتی و نو ما ورته وویل له ماسره ولاړ شه، هغه په مننه زما دغه دعوت قبول کړاوهوټل ته راسره ولاړ ،هلته یی تو له ورځ دهوټل په کار کی خدمت کاوه ،اودشپی به دخدای (ج) په یاد بوخت ؤ څه وخت وروسته بوډا هدیری ته دتګ اراده وکړه دپلټنی جذبی زه هم له هغه سره تګ ته وهڅولمما داليدل غوښتل چی دهغه جذبات اواحساسات به اوس څه ډول وی ، کله چی هدیری ته ورسیدو بوډا قبرونه جوړ کړل خاوری یی وریاندی سمی کړی ،او اوبه یی وریاندی وپاشلی ، بیا یی اودس تازه کړ لاسونه یی په دعا پورته کړل ،اودهدیرو دمړو په حق کی یی له خدایه بخښنه وغوښتله ، او بیا بیرته له هدیری نه راستانه شوو ،ما په دغه موده کی دبوډا ټول حرکتونه تر نظر لاندی نیولی وو ،اودامی حس کړه چی دهغه په کړو وړو کی دایمان پخوالی اودډاډ نور ځلیږی ، زما په زړه کی هغه سکروټی چی له پخوانه مړی مړی بلیدلی ، په لمبو شوی ، زما باور شو چی دا دبوډا کمال اوښیګنه نه ده ددغه دین کمال دی چی دغه بوډا یی پیروډی ما همدغه وخت داسلام راوړلو پریکړه وکړه ، کله چی هوټل ته ورسیدو ما بوډا ته وویل چی یوه داسی مسلمانه میرمن راوله چی ماته داسلام زده کړه وکړی بوډا سمدستی جګ شواودخپل امام لوری ته یی راوستله ،هغی ماته پر خدای (ج) اورسول الله ایمان راوړلو بلنه راکړه او دلا اله الاالله محمد رسول الله سبق یی راوښوده .
میرمن بارنس په اروپایی لهجه راته وویل :
ډاکتر صاحب ! اوس زه دالله تعالی په فضل او کرم سره مسلمانه یم ، اوهمغه لازواله ایمانی قوت چی ما په بوډا کی لیدلی و اوس په خپله سینه کی احساسوم .

مرغلری

* چی دخدای (ج) په نامه څه ورکوی نو وایی:« فی سبیل الله » یعنی دخدای (ج) په لارکی .
* کله چی عطسه « پر نجی » کوی نو «الحمد لله » یعنی ثنا اوصفت الله لره دی وایی .
* چی دکوم کار پیل کوی په « بسم الله » یی کوی یعنی شروع کوم دالله (ج) په نوم .
* چی دکوم کاراراده کوی نو « انشاالله » وایی یعنی که دخدای (ج) رضا وه .
* څوك چی رخصتوی « فی امان الله » ورته وایی یعنی خدای (ج) دی سلامت لره .
* کله چی له خوبه راویښ شی « لا اله الا الله » کلمه وایی یعنی « بی له الله (ج) نه بل دعبادت وړمعبود نشته .

* کله مو چی نامناسب کار وکړ نو « استغفرالله » یعنی له الله نه بخښنه غواړم وایی.

* کله مو چی دچا توصیف کاوه نو ورسره « ماشا الله » وایی یعنی چی الله غوښتی وی .
* کله چی څه تکلیف یادرد راشی نو « یا الله» (ج) یعنی ای زما الله (ج) وایئ .

داسلافو یادونه، دعبرت درسونه

درحیمزي ژباړه

خواجه حسن بصری (رح) دخدای دوست اولوی عالم وو ،هغه په پیل کی دغمیو او جواهراتو تجارت کاوه ، داچی دده په ژوند کی انقلاب څنګه راغی ، دهغی داستان ډیر عجیب دی ، واقعه داسی وه چی نوموړی (رح) یوه ورځ «روم » ته تشریف یووړ ،هلته یی دهغه هیواد له وزیر سره وکتل ، وزیرهغه ته وویل چی موږنن په یوه خصوصی محفل کی دګډون کولو لپاره یو ځای ته ځو،که تاسی هم له موږ سره لاړ شی ، نو ډیره به ښه وی، زموږ سره به ملګرتیا هم وکړی اوخپل معلومات به هم اضافه کړی .
دحسن بصری (رح) دوزیر دغه وړاندیزخوښ شو ، اودهغه دعوت یی په ډیره خوښی ومانه ، لږ وروسته یو کاروان په ډیر شان او شوکت سره دځنګل لوری ته حرکت وکړ حسن بصری (رح) هم له هغوی سره وو ، پدی ځنګل کی هغوی څه ولیدل ؟ په ځنګل کی هغوی تر ټولو لوړی داطلسو څخه جوړه شوی یوه ډیره ګران بیه خیمه ولاړه ولیده،دوزیر له رسیدلو سره سم دپوځ یوه منظم لښکر ددی خیمی طواف وکړ اواحترام نظامی مراسم یی په ځای کړل ، دپوځی لښکر تر تللو وروسته دپوهانو او فیلسوفانو یوی ډلی په هماغه ډول دخیمی طواف وکړ ، تر هغی وروسته دریمه ډله راغله ، دغه ډله دډیروښکلیو ښځو څخه جوړه شوی وه ، اوپه لاسونو کی دسرواو سپینو زرو او جواهراتو لوی لوی لوښی وو ، دغه ډلی هم دخیمی طواف وکړ او لاړه .
ترهغی وروسته وزیراو پاچا خیمی ته ورننوتل اوتر لږ ځند وروسته بیرته راووتل .
خواجه حسن بصری (رح) چی داصحنه ولیده ، په سوچ کی ډوب شو ، ډیر سوچ یی وکړ پوه نه شوچی داڅه کیږی ، داڅه ډول خیمه ده ، داخلك څه ډول دی ، داپوځ پوهان فیلسوفان ، داطوافونه اوداجوهرات سپین او سره زر داټول څه دی ؟
بالاخره یی له وزیر څخه وپوښتل ، چی داڅه ډول حیرانوونکی محفل وو؟
زه خو پری ونه پوهیدم .
وزیر په ځواب کی ورته وویل : څه موده مخکی دروم دقیصر یوازینی زوی مړ شو ، دغه خیمه چی ګوری ، دادهغه ارام ګاه(مقبره) ده .
موږ ټول خلك هر کال ددی خیمی زیارت ته راځو ، او مړه شهزاده ته پو ځی احترام کوو ، ترهغی وروسته پوهان او فیلسوفان دخیمی طواف کوی ،اوپه اخر کی په زرواو جواهراتو باندی سنبالی ښځی ددی خیمی طواف کوی .
زموږ ددی طوافونو اواحترام څخه هدف دادی چی مړه شهزاده ته ووایو چی که ستادوهم ځلی ژوندی کول زموږ په توان کی وای ، نو داپوځ ، دا حکمیان ، ډاکتران او فیلسوفان داماال دولت او ددنیا جاه او جلال دابه مو ټول قربان کړی وای اوته به مو دوهم ځل ژوندی کړی وی ، ولی ستا معامله اوس دداسی قدرت دخښتن ذات سره ده چی دهغی په وړاندی ددنیا داټول شان او شوکت هیڅ دی .
حسن بصری (رح) چی دوزیر دغه خبره واوریده ، نو دومره اثر یی پری وغورځاوه ، چی خپل ټول کاراوبار یی پریښود ، او خپل تاټوبی (بصری) ته راغی اوټول لوړ قیمته غمی او جواهرات یی دخدای (ج) په لار کی مصرف کړل .
او تر هغی وروسته یی ۷۰ کاله دخدای (ج) داسی عبادت وکړ چی نن دهغه شمیر نه ددنیا په لوړو خلکو کی کیږی .

په تیرپسي :

موږ په افغانستان کي څه وليدل؟

په افغانستان کي دنیول شوو روسي عسکرو خاطري :

دمسلم ژباړه

پر
افغانانو دروسانو دظلمونو په باب جرکوفسکی وایی :
دروسی خلك زیاتره له دی بی خبره دی یواځی هغه خلك تری خبریږی ، چی دهغوی نږدی دوستان اوخپلوانو دافغانستان دجگړی صحنی له نږدی لیدلی وی بیرته راستون شوی وی اوداکیسی یی خلکو ته کړی وی اوکنه دهغی پرته حکومت اومطبوعات پردی حقایقو پردی غوړولو ته وقف شوی کله ناکله په خلکوکی داحتجاج اورپه لمبو شی خوبیرته مړ شی .
دروسی پوځیانو په باب الیگریندر جرکوفسکی وایی هغوی دظالمی ترڅنگ سخت ډارن اوپست همته هم دی دمجاهدینو دراتگ غږ چی واوری په موټرو اوټانکونو کی پټیږی ، دخپلی ویری دلری کولو په خاطرهغوی داسی شراب ، چرس ،اوهیروئین څکوی چی په لاره تللی نشی دخپلی تیښتی اودمجاهدینو په لاس دنیول کیدو په باب

هغه وویل : په یوی جگړی کی ماته ترڅو ورځو دخوب کولو موقع په لاس رانغله په دی ورځ چی موږدشپی لخوا په یوه کلی داشرارو !!دنیولو اوتهکولو باندی بوخت ؤ زه دسهار لخوا یوه داسی کورته ننوتم چی بلکل خالی و هلته دیوه چپرکت په لیدوچی بستره پکی پرته وه دویده کیدو په نیت پکی پریوتم اوخوب یووړم اوچی کله می سترگی وغړیدلی زما ملگرو عملیات بس کړی ؤ او تللی وه ږه وارخطا شوم وسله می راواخیسته او منډي می کړی خپل مرکز ته ورسیدم ، هلته دکنډ رسیدو له امله زما څخه پوښتنی پیل شوی ، قوماندان له ماڅخه وپوښتل : ماچی دلاډوسپیکر له لاری امر وکړ تاولی امرونه مانه اودنورو پوځیانو سره بیرته رانغلی؟

ماتهول حالت په ریښتونی توگه هغه ته تیر کړ خو هلته دبخښنی پوښتنه نه پیدا کیږی هغه دوه پوځیان راوغوښتل اوزما په وهلویی پیل وکړ او وروسته یی زندان ته ولیږلم چی ما دکی ، جی ، بی غړو ته وسپاری ، دکی ، جی ، بی نوم زما ددارولو لپاره کافی و داراده چی دمجرمانو سره څه برخورد کوی دهغه څخه زه ښه خبریم ، په مرکز کی دموجود زندان څخه کله چی زه دډوډی خوړلو لپاره بهر وباسل شوم ما دمعذرت درفع کولو په پلمه دخپلو ملگرو له سترگو ځان بچ کړاوبهر ووتم ، دمرکز له حدودو چی ووتم خپل تگ می تیزکړ اوچاریکارو ته ورسیدم دچوراوچپاول په وخت لاس ته راغلی پیسی زماپه جیب کی وی په یوه سماوار کی می چای وڅکه ، کله چی بهر ووتم

دمجاهدینو یوی څلور کسیزی ډلی ونیولم ، دانیول زما دازادی پیلامه ده ، هغوی زه خپل قوماندان انجینر طارق ته بوتلم ، قوماندان طارق څو ورځی زه دمیلمه په ډول وپاللم ، دهغه ښه برخورد ډیر متاثرکړم تر هغی وروسته یی زه دمجاهدینو په لاس ازاد شوو سیمو ته ولیږلم اوس زه ازاد ژوند کوم اودلته ماته دخوړلو دوډی اوداغوستلو کالی مهیادی ، اوماته په ډیر عزت او احترام کتل کیږی .
ایان
ځوان «ایان» دهغو روسی پوځیانو له جملی څخه دی ، چی دافغانستان پر بی وزلی ولس یی دروسی پوځ وحشتونه لیدلی دظلم او وحشت صحنو په لیدلو سره هغه له دی شرمه ډکی لوبی څخه کرکه پیداشوه اودسره پوځ څخه وتښتید ،دظلم علمبردارانو اودسره پوځ دپوځیانو په نوم ایان یو پرانستی لیك لیکلی

مسایل ومشکلات جهان اسلام وراه حل ان

از منابع خارجی – ترجمه : احمد سعادت

همه مسلمانانیکه پیرو دین مقدس اسلام اند به هیچ قوم ویا قبیله منحصر نیستند ، بلکه انها اعتقاد محکم دررابطه به این کائنات وحیات دارند که نظام تهذبی خاصی انها را بران استوار داشته است ، باوجود خلط شدن بعضی ازرنگ های محلی بااین تهذیب اسلامی بازهم اساساًهم اهنگ است وهمین اسلامست که صلاحیت جذب کردن دیگر انرا دارد این ایمان جداگانه ، فکر مستقل ، نظام مستقل حیات وفرهنگ جداگانه نه صرف رشته اخوة وهماهنگی رامیان مسلمانها سالهای سال بر قرار داشته است بلکه توان مخالفت کامل با نظامهای حیاتی خود ساخته بشر رانیزدارد ، دردین اسلام روح قیام وصلاحیت ایستاد شدن بر روی پای خود موجود است .
باوجود صفات مذکور

مسلمانهای جهان امروز متاسفانه با مشکلات زیادی روبرو اند دو گروه بزرگ کفری جهان (عسائیت ، غربی واشتراکیت شرقی) همیشه برضد اسلام مصروف سازش اند وعلیه اسلام متحد شده سرپیکار می شوند .
هندوها با گرفتن قدرت درهندوستان برعلیه اسلام با هرنوع سلاح زهراگین مسلح شده می جنگند ، وهمچنان مناطق زیادی اسلامی در افریقا وجوددارد اما به اساس سازشی که عیسوی ها براه انداخته اند همه مناطق راانها درحالیکه در اقلیت واقع اند تحت سلطه خود قرارداده اند درقدم اول نام ونشان مسلمانها راازبین بردند ، تحت تسلط روسیه تقریبا شش جمهوریت مسلمان نشین وجود دارد وروسیه با نامهای مختلف فرهنگ وکلتور مسلمانها رامحو نموده است مسلمانهای انجا به صورت

زوال اند واز نقطه نظر زندگی،ان ها خیلی عقب مانده اند علاوه بر ان کوتاهی های که از ان مردم سر زده بود انهارابه رسوایی کشانیده اند مثلاً از شکستی که عرب ها در مقابل اسرائیل خورده اند تا حال به هوش نیامده اند در حالیکه هنوز فلسطینی های مظلوم تحت نظام جبر وتشدد بسر می برند وتاریخ گواه است که دریك حمله دو روزه ۸۰۰۰ مسلمان فلسطینی به شهادت رسانیده شد ولی جز یك شور وغوغایی احساساتی مسلمانان کدام اقدامی بخاطر نجات انها صورت نگرفت .
درخطه شرقی جهان روسیه خون اشام به کشور مظلوم وبیچاره افغانستان حمله نموده وانرا تحت تسلط

خویش دراورد ، وتاهنوز مزدوران وی کشتار مردم بی گناه را دوام میدهند،هند کشمیر اشغالی را روزانه به تباهی می کشاند و امریکا هم درجنگ خلیج کمر عراق را شکستاند ، ازاین وضع معلوم می شود که روح قیام در مسلمانها مرده است فکر واندیشه انها زنگ الود شده است یك عده از علمای کرام ما تمام وقت خود را صرف اختلافات فرعی نموده ، فرقه پرستی را دامن میزنند ، حتی سخن بجای رسید است که یك گروه درمسجد گروه دیگر نماز نمی خواند واعظین به عوض انکه دردها ومشاکل جامعه را حل وفصل نمایند ، بریکدیگر خود طعن وتشنیع میکنند ، و چنین هنگام کسانیکه تحت تاثیر غرب قرار دارند اولتر ازهمه از اسلام بی گانه وازان متنفر می شوند .
از نقطه نظر اقتصادی

درحقیقت کساني که رهبریت کشورهاي اسلامي را بدوش دارند ، اماده نیستند از مقام خود به خواست هاي رعیت شان پائین ایند

بقیه درصفحه۷

دسعادت پرلور

زه ولي مسلمان شوم؟

دابوهارون ژباړه

میرمن بارنس «انگلیسی »:

ددی کیسی راوی علامه محمد اقبال لاهوری دی ، دغه داستان دمرحوم علامه (رح) په فرمایش لیکلی شوی کتاب « ژوندی دی وی اسلام » کی چاپ شوی دی ، اوله همغه ځایه رانقل شوی دی.
دامت حکیم علامه محمد اقبال لیکلی دی :
دښاغلی داور اپسن « یونوی مسلمان شوی کس دی » په څیر دمیرمن بارنس داسلام راوړلو کیسه هم ډیره حیرانوونکی ده ، هغه دیوی نوی مسلمان شوی پوځی انگریز ماندینه وه ،دڅو کالو وراندی خبره ده، دغه دواړه میړه او ماندینه په څه دعوه کی راگیرشوی وو او ماته راغلل ، څرنگه چی پرلوی نارو‌ا او دروغ تور پوری شوی ؤ نو ځکه محکمی په ډیر عزت بی گناه وبلل او رخصت یی کړل.
زه ددوی ددعوا وکیل وم څو ورځی وروسته میرمن بارنس له ماڅخه دمننی لپاره لاهور ته راغلله ، دغه وخت ما ورڅخه وپوښتل ، چی محترمی ! ستا داسلام راوړلو سبب څه شی دی ؟
هغی ځواب راکړ چی « دمسلمانانو دایمان پوخوالی » اوبیا یی په دی اړه دیوی پیښی کیسه وکړه :
ډاکتر صاحب ! مالیدلی دی چی په نړی کی یو قوم هم داسی نشته چی دمسلمانانو غوندی کلکه عقیده او ایمان ولری ، بس همدغی خبری زه داسلام لوری ته مایله کړم،هغی له لږ سکوت وروسته خپلو خبرو ته دوام ورکړ :
ډاکتر صاحب ! زه دیوه هوټل څښتنه وم،زما په هوټل کی یو ۷۰ کلن بوډا ملازم و ، ددغه بوډا یو ډیر ښکلی زلمی زوی ؤ ،په یوه مریضی کی دغه ښکلی زلمی وفات شو ، نو زه ډیر خفه شوم ، زه دتسلیت لپاره بوډا ته ورغلم هغه ته می تسلی ورکړه اوپه غم می یی ځان شریك وگاڼه ، بوډا عادی غوندی زما خبری اوریدلی اوچی کله زه چوپه شوم نو هغه په ډیر داډمن حالت اسمان ته لاس ونیول اوویی ویل :
عزتمندی ! دادخدای (ج) تقدیر دی ، دخدای (ج) امانت ؤ او هغه بیرته واخیست په دی دغمجن کیدو مجال نشته ، موږ باید په هر حال کی دخدای (ج) شکر ادا کړو .
ډاکتر صاحب ! دبوډا اسمان لوری ته لاس اوچتول زما په زړه کی نقش شول ماته به هر وخت دده خبره رایادیدی ، اوویل به می چی لویه خدایه ! په دی دنیا کی داسی صابر اوشاکر اودداده زړه خاوندان هم شته ، پلټنه می پیل کړه، چی بوډا دومره ځواکمن اوډاډه زړه له کومه کړ، نومی پوښتنه تری وکړه چی :
آیا دمرحوم زوی دی څه اولاد هم شته که نه؟
هغه ځواب راکړ : یوه میرمن او یو ماشوم زوی لری .
دبوډا ځواب زما حیرانی لږ کړه ، مادده دزړه سکون اوډاډ داسی وانگیره چی لمسی یی شته چی مینه ورسره وکړی ، اوپام یی ورسره غلط وی ، له دی پیښی نه ډیره موده نه وه تیره شوی چی دیتیم ماشوم مور هم وفات شوه ، په دی پیښه زما زړه ډیر دردمن شو، بوډا ته دنږورغم زما په زړه وزرونه وغوړول ، زه دتعزیت اوتسلی لپاره ددوی کلی ته وخوځیدم ، دغه وخت دخیالونو او احساساتو یوه دنیا راسره ملگری وه ، فکر می کاوه چی په دی مصیبت به دبوډا ملا ماته وی هغه به عقل او حواس له لاسه ورکړی وی ، دماشوم یتیم ماشومتوب به بی سیکه کړی وی ، زه په همدی سوچونو کی دوبه دبوډا کورته ورسیدم هغه سر ښکته اچولی و ، اودیوی ډلی خلکو په منځ کی ناست ؤ ما دنوی ماتم په باب خپله غمرازی ورښکاره کړه ، بوډا زما دهمدردی او غمرازی خبری ډیری په ارامی او داډ واوریدلی ، خو چی کله یی دځواب وارشو نوبیا یی خپل لاس اسمان ته پورته کړ او ویی ویل :
« عزتمندی صاحبی ! دخدای (ج) په رضا کی بشر هیڅ هم نه شی ویلای ، دهغه مال و بیرته یی واخست موږ ته په هر حال کی لازم دی ، چی دخدای (ج) شکر اداکړو »
میرمن بارنس په ډیره حیرانی راته وویل :
ډاکتر صاحب ! ترکومه وخته چی زه دبوډا سره ناسته وم نه می یی له خولی نه اسویلی واورید اونه می یی په سترگو کی اوښکی ولیدلی ، هغه په داسی ډاډ اوارامی خبری کولی لکه خپل یوازینی زوی او نږوریی چی په خاورو کی خښ کړی نه وی ، بلکی خپل کوم فرض یی پوره کړی وی ، لږ وروسته زه بیرته را ستنه شوم ، خو په لاره کی می تر کوره پوری دبوډا په کلك ایمان او پخه عقیده کی فکر کاوه زه دغی پوښتنی ډیره ډیره ځوروله چی په داسی ستر ماتم او مصیبت کی دصبر او استقامت دومره ستر نعمت څرنگه ترلاسه کیدای شی ؟
له بده بخته څو ورځی وروسته دبوډا ماشوم لمسی هم وفات شو ، ددی خبرپه اوریدو سره می یو ځل بیا دبوډا څیره سترگو ته ودریده ، اودهغه په باب می په خپل خیال کی قیاس اواندازی لگولی زه په ډیره ناکراری دهغه دلیدو لپاره کلی ته ولاړم ، زما پوخ باور و چی میرات بوډا به اوس ډاډ اوصبر خوړلی وی ، اوسخت به ځوریږی ، دهغه زړه اودماغ به له کاره لویدلی وی ، مایوسی به یی دامید تولی هیلی وروژلی وی خوچی بوډا می په داسی حال کی ولید لکه چی په مخکی دوه ځلم می لیدلی ؤنو نږدی ماخپل حواس له لاسه ورکړی وو.
ما په زړه سوی اوبی حده همدردی دخپل زړه درد اوغم هغه ته بیان کړ ، هغه سر ځوړند کړی ؤ او زما خبروته یی غوږ نیولی ؤ ، کله کله به له سینی نه داهونواو از راپورته شو هغه ډیر غمجن هم و خو چی

په ٤ مخ کي

دمنځنی آسیا اسلامي هیوادونه او...

یکی ۴۰ زرو طالبانو مفتی زده کړی حاصلولی ، دپورته ذکرشویو اولیاوو اوجیدو عالمانو دکوښښونو او هلو ځلو برکت دی چی نن یو ځل بیا دغلته دخونخوار ظالم ګریوان ته لاس واچول شو او داستبدایی ماڼیو په نړیدو لاس پوری شو.

(ددغه ځای په مسلمانانو څه تیر شول): روسی کمونستانو په ۱۹۲۰ کی پدغو سیمو کی دخپل ناوړه پلان له مخی دقران کریم طباعت اشاعت او ورسره ددینی درسونو په زده کړو بندیزونه ولګول کوم مسلمان به چی صرف دخدای (ج) دپاك نوم په یادولو ولیدل شو ، تر ټولو لوی جُرم (روحانی) به ګرځیدو اودخپلی سیمی دشهریت څخه به محرومیده ، دحج په فریضه یی هم بندیز ولګاوه اودنور پرمختګ لپاره یی دکمزوری ضمیر او ضعیفی عقیدی خاوندان (مسلمانان) مسلمانانو دجاسوسی لپاره په بیه واخستل ، دهمدی لاری یی زیات جوماتونه او مدرسی یا ویجاړی کړی اویا یی په استوګنځیو ، ګودامونو، او موزیمونو بدلی کړی ،او که چیری کوم جومات یا مدرسه پاتی هم شوه نو له حده زیاته مالیه یی پری وتړله حتیٰ په لمونځکوونکو یی هم مالیه ورکول قانونی وګرځوله دپخی عقیدی کوم مسلمانان به چی بیا هم دلمانځه دادا کولو لپاره راتلل نو دسرمایه دارانو په نامه به یی له پول پول شکنجو سره مخامخ کول بالاخره به یی یاپه شهادت ورسول اویا به یی دسائیبریا وحشی بندیخانو ته دټول عمر لپاره ورګذار کړل چی دمړی اوژوندی پته به یی نه لګیده.

دکمونیزم دناپاکه تسلط څخه مخکی دمنځنی اسیا دمسلمانانو نفوس ۳۰ ملیونه ؤ چی اوس دالله تعالی (ج) په فضل او کرم تر ۵۰ ملیونو پوری رسیدلی دی په هغه وخت کی هم دحق علماو دکفر په مقابل کی په یوه نه ستړی کیدونکی وسله وال مبارزه لاس پوری کړ ، اودایی په ډاګه کړه چی مسلمانان به هیڅکله هم پداسی بدحالت کی پری نږدی ، دهمدغه اوسپنیز عزم او کلکی ارادی له مخی په زرګونو مجاهدین ددغو اولوالعزم علماوو تر مشرتابه لاندی غرونو ته وختل اودکفر په مقابل کی یی جهاد پیل کړ دکمونستانو په مقابل کی دولس کاله دغو جهادی مبارزو دوام وکړ چی کمونستان یی یوه شیبه هم ارام ته پری نښودل ، کمونستانو ددغو علماوو دنیونی لپاره جاسوسی ناوړه پلانونه او تبلیغاتی هلی ځلی پیل کړی ، علماو راپارېدلی مسلمانان یی تر څارنی لاندی ونیول ځوانان یی دتبلیغاتو او فحشاوو له لاری دکمونیزم دخیالی جنت!! په لیدو سره دعلماوو نه بیزار او دځان ملګری کړل دهمدغی لاری نه په استفادی سره یی عالمان دظالمانه شکنجو لاندی ونیول اود ۱۹۴۰ میلادی کال پوری یی ۵۰ زره عالمان ، فاضلان ، او روحانیون په شهادت ورسول .

خو علماوو ښه په نره سره دخپلو وینوتراخری څاڅکو پوری دکفر مقابله وکړه خو له بده مرغه دځنو کمزورو مسلمانانو دبی وفایی (چی دکمونستانو په خیالی جنت وغولیدلی ، اودعلماوو دملګرتیا نه یی لاس واخیست) عالمان اویو شمیر مسلمانان دی ته اړ شول چی افغانستان ، هندوستان ، عربستان ، او ایران ته هجرت وکړی ددغو مهاجرینو له جملی څخه یوه تن مهاجر چی استاد (اعظم هاشمی) نومیده اودکراچی په یوه پوهنتون کی یی داستادی دنده په غاړه درلوده خپل سرګذشت داسی بیان کړی : په ۱۹۳۱ کال کی می عمر ۱۶ کاله و دکورنی څه غړی می په شهادت ورسیدل او څه تر څارنی لاندی ؤ دمور او ښځی می همدغه ټینګار کاوه چی ولاړ شه هجرت وکړه مور به می راته ویل : زویه بیشکه چی ته زما دارزوګانو اوامیدونو یواځینی اسره یی خو داسی چی پدی ګران هیواد کی دیوه مسلمان په توګه زما خدمت وکړی نوربیا

بسم الله الرحمن الرحيم

دګردیز دقول اردو دقوماندان اونورو عسکری صاحب منصبانو په نامه ، دالحاج حقانی پیام

نحمدالله ، ونستعینه ونستغفره ونستهدیه ونومن به ونتوکل علیه ، ونصلی ونسلم علی سید الانبیا والمرسلین وعلی آله وصحبه اجمعین

اما بعد :

دګردیز دقول اردو قوماندان عبدالقادر خان «میاه خیل» اودګردیز لوړ رتبه صاحب منصبانو مامورینو ، اودقومونو مشرانو !

دیارلس کاله تر مخه په افغانستان کی تاسی له موږ نه لاره جلا کړه ، یومحدود تعداد دکفر او الحاد لاره غوره کړه اودروسانو په لمن کی یی ځان واچاوه ، اویو شمیر نور کسان دتاسی په شان فهمیده اونافهمیده دهغو په صف کی ودریدل ، په مقابل کی دافغان مسلمان ولس دالله پاك لاره غوره کړه ، اودملحدینو پر ضد یی قیام وکړ ، اوپداسی حال کی یی جهاد شروع کړ چی دخدای (ج) دهیلی نه پرته نورامکانات موجود نه وو ، موږ ستاسی په اصطلاح قوماندانان خو په حقیقت کی دافغان مسلمان ولس خدمت ګاران ځانونه مخ کی کړل ، په هغه وخت کی زموږ ډیره ښه وسله یومیله شکاری ټوپك وو ، په افغان مسلمان ولس چی څه کړاونه اوظلمونه راغلل ، دهغی تفصیل ته حاجت نشته ،اویو معلومداره حقیقت دی پس له دیارلس کلو ، اوس باید پر دواړو لارو قضاوت وکړواو مقایسه یی کړو چی دچا لاره صحیح اوحقه ده ، هغه چاچی دروسانو لار غوره کړی وه، او دملحدینو په صف کی دریدلی وو ، دهغو دعقیدی سمبول اومرکز یعنی دلینن پر غاړه زنځیرونه اچول کیږی ، اویتان راچپه کیږی ، دبشر ستر طاقت (شوروی اتحاد) له منځه لاړ ، چی دجهاد نه مخکی یی کم تر کمه په کال کی یومملکت کمونستی ته کشاوه ، اودشوروی په امپراطوری کی زیاتوالی راته .

دافغان مجاهد ولس چی دقادر اوتوانا الله (ج) لاره یی غوره کړی وه لاس خالی، جیب خالی، خیټه خالی، او په تن لوڅ وه دشوروی امپراطوری یی رنګه کړه، اوهغه لویه امپراطوری په کوچنی روسیه بدله شوه ،نن ګورباچوف کچکول په غاړه ګدایی کوی ، اوستاسو دملحدو ملګرو دحمایی نه یی لاس واخیسته دادالله (ج) حکمت اودنړی دمسلمانانو دستر سالار حضرت محمد (ص) معجزه اومرحمت اوداسلام برکت دی چی دمجاهدینو پوړی ستاسی له پوړی نه ښه ده ، لباس یی ستاسی له لباس نه ښه روحاً ارام اودخدای (ج) دنعمتونو نه شکر ګزار دی هغه کچه زاړه ټوپك مو په سختګرو اوستاسو تروسلو نه په ښو وسلو بدل شول ، دروس په لاس جوړشوی ټانکونه او درنی وسلی دمجاهدینو لاس ته ورځی ، وګوریٔ چی یوازی پرون دشنبی په ورځ ستاسی څومره ټانکونه زره پوش ، لاری توپونه ، شل کاوی ، غرنی هاوانونه ، په ټنونو ددرنو اوسپکو وسلو مهمات د۶۷ ام غونډ قرارګاه په فتحه کیدو کی دمجاهدینو لاس ته ورغلل چی همدا اوس الحمد لله بیرته پر تاسی استعمالیږی .

پخوانی پاچا اوهر بل څوك په افغانستان کی ستاسی دمصئونیت ذمه وار کیدلای نشی، اوس ستاسی بیځایه مقاومت دبی ګناه خلکو تلفات زیاتوی ،اوآبادی ګانی ورانوی او زموږ انسانی ترحم او اسلامی عاطفه په قهر او غصه تبدیلوی ، هیڅ احمق ګټل شوی میدان له لاسه نه ورکوی ، دګردیز په نیولو کی انشاالله زموږ تصمیم قاطع دی ، زموږ غوره شوی حقیقی لاره به حتماً پای ته رسیږی انشاالله تعالی دمقاومت په صورت کی به دټولو عواقبو مسؤلیت ستاسی په غاړه وی ، او که تاسی دملحد حکومت حمایت پریږدیٔ ، اودمجاهدینو طرف غوره کړیٔ نوموږ دافغانانو مسلمانانو په صفت تاسی ته په ډاګه اعلانوو ، چی حتی که ستاسی په منځ کی خلقیان اوپرچمیان هم موجود وی زموږ له طرفه عفوه دی ، ددی لیك سره موږ یو ځل بیا تاسی ته عمومی عفوه اعلانوو او یو ځل بیا هیله او تمنا کوو چی راځیٔ دخالی اوپوچو احساساتو څخه تیر شی او نورونو په شان زموږ په څنګ کی ودریږی ، چی پدی کار سره به دمرګ ژوبلی څخه مخنیوی وشی اوخدای (ج) به هم راضی شی ، دافغانستان په آینده نظام کی چی هغه به خوامخوا انشاالله تعالیٰ اسلامی وی چی هر څوك راځی ، ستاسی سراومال بقا به خوندی وی ، اوعزت او ابرو به مو په ځای وی ، ځکه چی دجهاد دقوماندانانو حمایت اوملګرتیا به موتر لاسه کړی وی ، ددی اعلان په اوریدو سره لطفاً دخدای (ج) په لحاظ اودګردیز دمظلوم ولس په خاطر فکراوسوچ وکړیٔ او تصمیم ونیسیٔ او موږ ته زر ترزره اطمینان راکړی ، موږ ددی اعلان په وسیله خپل مسؤلیت دخدای (ج) په حضور اودګردیز داوسیدونکو په مقابل کی رفع کړ .

په درناوی

« دپکتیا دمجاهدینو د قوماندانانو دشورا په نمایندګی »

روسان غواړی...

باندی دوروستی بریدونو په نتیجه کی دمجاهدینو دپرمختګ له مخی ګردیز دفتحې درشل کی دی .حقانی صاحب زیاته کړه چی په ګردیز باندی دمجاهدینو اوسنی حمله اخرنی حمله نده داوو تنظیمونو دقوماندانانو دشورا دفیصلو په اساس اوس هم ګردیز دډزو تر اوړ لاندی دی اواوه کسیزې شورا دامنیتی خط دساتلو لپاره دنجیب په برجوړه میلین نومی کلا کی د۱۴ کسیزی نظامی شورا لوی مرکز پرانیستی اوجګړه دګردیز شورا تر فیصلی لاندی کیږی اودتنظیمونو اوقومونو دمجاهدینو تر منځ هیڅ اختلاف نشته .

په ګردیز کی مکار دښمن د...

امورو لپاره بیلابیل او منظم قوتونه اوتشکیلات مسؤله همدی ځای ته ده چی زموږ جهادی قوتونه فتحه شوی ځایونه ټینګوی دی .

حقانی صاحب زیاته کړه : موږ تراوسه دری تعرضی حملی کړی او په دری واړو کی مو دالله تعالی په فضل

> زموږ داپلان دي چي له ټولو طرفونو څخه
> په یوه وخت تعرضي عملیات پیل شي ،
> او همدارنګه دلاري بندولو پلان هم لرو ،
> او که داکارونه وشي انشاالله دمجاهدینو
> کامیابي بالکل یقیني ده.
> «الحاج مولوي نظام الدین حقاني »

،اوډداسی ځایونو دحفاظت لپاره بیا بیل قوتونه لرو .دهمدغه نظم او انسجام له مخی زموږ قوتونه ډیر فعال بری په برخه شوی دی ، اوپدغو دری واړو تعرضونو کی له ټانکونو څخه استفاده شوی همدارنګه مجاهدینو ددښمن څلور تعرضونه په شا وتمبول او ۱۳ ټانکونه یې ورڅخه ویجاړ کړل.

حقانی صاحب وویل : موږ وړو وړو مخکی ځو ځکه په ګردیز کی ډیری کډی دی ددوی دتلفاتو دمخنیوی په خاطر موږ قدم په قدم وړاندی ځو اوخپل عملیات به داسی پر مخ بیایو چی هغوی ته ډیرتلفات ونه رسیږی اوکډو ته دوتلو یو چینل بیرته پاتی وی.

دمیزان په ۱۸ نیټه دابو جندل غونډ له قوماندان حاجی نیك محمد سره چی دجبهی په لومړنی لیکه کی یی خپل سنګرونه ټینګ کړیدی دقوماندانی مرکزکی ملاقت وشو هغوی دجګړی په رابطه وویل :

پرون دمیزان په ۱۷ مه نیټه ددښمن دری تعرضونه وکړل خو دری واړه تعرضونه یی په شا وتمبول شول دمجاهدینو دجوابی برید په نتیجه کی ددښمن ۳ ټانکونه تخریب او ګڼ شمیر افراد او صاحب منصبان یی ووژل شول .

ده زیاته کړه زموږ مجاهدین دلیوس په سیمه حاکم دی اودمجاهدین اوددښمن تر منځ ایله ۵۰۰ متره فاصله موجوده ده .

قوماندان حاجی نیك محمد دخپلو مجاهدینو دیوی بلی تعرضی حملی په هکله خبری وکړی ویی ویل : موږ دیوه تعرض پلان هم تر لاس لاندی لرو او لمید دی چی دهغی دتطبیق په نتیجه کی دشرق یعنی دسروتی په استقامت ددښمن وروستی دفاعی لیکی هم له منځه ولاړی شی . « ادامه لری »

دګردیز دښار دری کیلومتري کي دمجاهدینو دهاوان یومورچل

نامه وزیر خارجه عراق عنوانی سرمنشی ملل متحد

بغداد ، اژانس فرانس پرس :

حکومت عراق اخطار داده است درصورتیکه هواپیماهای اسرائیلی بار دیگر به تجاوز هوایی برخاك عراق دست بزنند ، هدف حمله متقابل عراق قرار خواهند گرفت .

احمد حسین الحدید وزیر خارجه عراق طی نامه عنوانی پریز دیکویار سرمنشی سازمان ملل متحد از سازمان مذکور خواسته است تابرای عراق تضمینی فراهم سازند ، که هوا پیماهای اسرائیلی بار دیگر بر فضای عراق پرواز نخواهند کرد ، درغیر ان ما مسؤل حفظ سلامتی هلیکوپتر های سازمان ملل وافسران تفتیشی حامل آن نخواهیم بود قابل یاداوریست که دوشنبه گذشته «۱٤ اکتوبر» یکعده طیارات اسرائیلی درحدود فضایی عراق پرواز های اکتشافی را انجام داده بودند. مقامات اسرائیلی می گویند که آنهاحق دارند هر وسیله ممکنه رابرای دفاع خویش استعمال نمایند.

په اسرائیلو کی دروسیی سفارت مخی ته دمیشته یهودیانو قطارونه

دپاکستان ورځپانه :

داسرائیلو له خوا په عربی نیول شویو سیمو کی ځای پر ځای شوی روسی یهودیان چی پدی سیمه کی یی دارام ژوندانه خوبونه لیدلی وو، اوس له هغی ځای څخه په تیښته دی .

دلاهور څخه خپریدونکی دپاکستان ورځپانی لیکلی چی که څه هم په روسیه کی بی حده سوړ ژمی اودخوراکی موادو قلت راروان دی ، دبیا هم دغه یهودیان هلته دکمونستی دیکتاتوری دړنګیدو اودکی جی ، بی سازمان دمنحلیدو وروسته ، بیرته روسیی ته تلل غواړی ځکه په اسرائیلو کی د«مذهبی وطن »تحریك چی ددوی دځای پر ځای کولومسؤلیت یی په غاړه درلوده ، دوی ته دخوراکی موادو ، داوسیدو ځای دکار او کسب پیداکولو اودژوند دنورو ضرورتونوپه پوره کولو ناکام شوی دی .

پدی سبب اوس په اسرائیلو کی دروسی دسفارت خانی مخی ته ددی راوستل شویو یهودیانواوږده قطارونه ولاړ دی ، چی بیرته روسی ته تلل غواړی .

دافغانستان قضیه او ۰۰۰

اوس چی گوری افغان جهادی طاقت دواحد قیادت دنشتوالی له امله دکمزوری‌په خوا روان دی روسان خپل شرایط په جهادی قوتونوتپی. داپیردخپگان خبره ده چی گورو زموږ دسیاسی او قیادتی کمزورتیا په وجه روسان نه یوازی خپلو پخوانیو ژمنو پوره کولو ته تیارندی بلکه خپل شرایط او خپل لاس کینولی رژیم پرموږ تحمیلوی. که چیری دجهادی قوتونو دقیادت داروانه بی اتفاقی همداسی دوام ومومی، پدی باید ټول وپوهیږو چی زموږ دمسلمان ملت ددین اووطن دښمنان داروسان او دکابل رژیم کمونستان به خدای مه کړه په موږ لاس برشی او دابه هغه تریخ حقیقت وی چی اوس هر یو مومن مسلمان دهغه حتی دفکر کولو څخه کرکه او نفرت لری اوپه هیڅ ټول دهغی منلو ته غاړه نشی ایښودی.

دهند داترپردیش په ایالت کی دبم دوه چاودنی

نوی ډهلی ، دمیزان ۲۵ مه :

دهند داترپردیش ایالت په «نینی تان» ښار کی تیره شپه دبم دوه زورګی چاودنی وشوی چی دهغی په نتیجه کی کم ترکمه ٤۲ کسان مړه شوی اوپه سل گونو نور سخت ټپیان شوی دی .

دهند دیوه خبری اژانس درپوټ له مخی ویل شوی چی لومړی چاودنه دهندوانو په یوه مذهبی میله کی وشوه چیرته چی بی شمیره خلك راغونډ شوی ووار دوهمه چاودنه دیوی شفاخانی په مخه کی وشوه چی هلته یی هم څه کسان مړه او ټپیان کړل .

دهند پولیسو شك ښکاره کړی چی داچاودنی دافراطیونو له خوا شوی دی ددغه چاودنو په منځ کی یوازی ۱۰ دقیقی وخت وه. دیادونی وړده چی داترپردیش په ایالت کی دهندوانو دمتعصب گوند (بهارتیه جنتاپارټی) حکومت دی چی دمسلمانانودتاریخی جومات (بابری جومات) دورانولو او دهغی په ځای یی ددرمسال دجوړولو فیصله هم کړی ده .

حمله موفقانه مجاهدین درتنگی ابریشم

به اساس گزارش دفتر سیاسی شورای قوماندانان ازولسوالی سروبی حاکیست که مجاهدین طی عملیات شان بروز های ۲٥و ۲٦ میزان مواضع نظامی رژیم کابل را در شهر سروبی واقع درشهراه کابل جلال اباد هدف اسلحه ثقیله قرار دادند که در نتیجه یك دیپوی بزرگ سلاح ومهمات رژیم کابل منفجر وبه آتش کشیده شده است .

خبرمی افزاید که طبق راپورهای رسیده درین دیپو بر علاوه انواع مختلف سلاح های ثقیل وخفیف حدود چهارهزار فیر راکت های اوراگان که روزانه وهر لحظه برمجاهدین فیر میگردد نیز منفجر گردیده است دود وآتش تا فاصله های زیاد بچشم می خورد وصدای انفجارات حدود دوساعت متواتر ادامه داشت ازسایر تلفات وخسارات درین محل تاکنون خبر نرسیده است.

هم چنان مجاهدین درعملیات روز ۲٥ میزان واقع تنگی ابریشم شهراه کابل سروبی را مسدود نموده وطی عملیات تاریخ مذکور چند پوسته نظامی رژیم نیز به تصرف مجاهدین درامده شش تانك محاربوی باچهار لاری مهمات نظامی دشمن ازجانب مجاهدین به آتش کشیده شده است، عملیات مجاهدین ادامه دارد.

په گردیز کی دسروړی ستراتیژیکه قرارگاه فتحه شوه

پکتیا ، دمیزان ۲٦ مه :

دپکتیا ولایت د مرکز گردیز له جهادی سنگرونو څخه دجهاد هنداری خبریال خبر راکوی چی مجاهدینو په هغوعملیاتو کی چی دتیری جمعی په ورځ یی دگردیز دښار په جنوبی خوا کی ددښمن په پوځی مرکزونو اوپوستو کی وکړل ، دسروړی په نامه یی ددښمن یو پوځی مرکز چی دیوی مهمی ستراتیژیکی نقطی په توگه یی مزدور رژیم ته زیات ارزښت درلود اودمجاهدینو دوړاندی‌تگ په مخه کی لوی خنډ ؤ فتحه کړه .

خبر زیاتوی چی په دغو بریالیو عملیاتوکی مجاهدینو ډول ډول درنی اوسپکی وسلی په غنمیت نیولی دی .

دیویل خبر له مخی دمجاهدینو ددرنو توپونو دډزو له امله داحمد زیو دسیمی دبکرپه غونډی کی ددښمن یو ټانك په پوځی مهماتوباریو موټر او داویوټانکرویجاړشوی دی .

ارسال اسلحه جدید از جانب روسیه به کابل ادامه دارد

استفاده رژیم از ماین های کمپیوتری درگردیز

خبر نگار اعزامی میدیا از شهر کابل گزارش داده است که انتقال سلاح ومهمات جدید النوع به رژیم کابل از جانب روسها همچنان ادامه دارد ، وهمه روزه انواع اسلحه جدید از جمله اقسام راکت ها ، بم ها ، مین ها وسایر مواد اتشی جدیداً به کابل انتقال یافته کەدر جنگ گردیز مورد استفاده قرار گرفته است .

طبق گزارش یکی ازین سلاح های جدید الورود مین های کمپیوتری است که درگردیز منجر به شهادت دسته جمعی عده از مجاهدین شده است .

گفته میشود مین های فرش شده درساحه از مرکز رهبری شده وبعداً بەورود تعدادی زیادافراد درساحه مذکور با سوچ منفجر می گردد ، وافراد موجود را بصورت دسته جمعی ازبین می برد .

خبر نگار میدیا که حدود ۲٥ روز را درکابل سپری نموده است خبر میدهد ، پرواز های طیارات روسی از مسکو به کابل که قبل از جنگ گردیز هر صبح ٤ پرواز صورت می گرفت بعد از آغاز جنگ تعداد پرواز ها به ۱۰ پرواز در روز افزایش یافته است .

مسایل ومشکلات جهان...

اگرنگاه کنیم کشور های مسلمان خیلی ها عقب مانده اند ومحتاج کشور های غربی اند وخصوصا دردنیای تکنالوجی مجبور اند که یا به طرف شرق ویا به طرف غرب منسلك شوند درحالیکه این کار نه تنها کمکی به انها نیست بلکه در نتیجه مسلمانها مجبور اند که قیمت گذافی رانیز بپردازند ، هیچ رازی ازکشورهای اسلامی پنهان نمی ماند وحتی بعضی ازکشورهای عقب مانده اسلامی میدان های هوایی ومراکز نظامی خود را توسط دشمنان اسلام می سازند ، ساینس وتکنالوجی میراث شخصی هیچ کشور نیست بلکه این متعلق به همه انسانها است اما مسلمانها دراین میدان ازجهان غرب خیلی ها عقب مانده اند با ناداشتن این علم جهان اسلام محتاج دیگران شده است .

از نقطه نظر اجتماعی اجتماع ما شکار خرافات ورسوم شده است وما در اختلافات ذات البینی خود می سوزیم واین مرض اختلاف در طبقه باسواد وبالخصوص درسیاست مداران ما بیشتر حکمفرماست وعلاوه بر ان واقعات که در مقابل چشم ما رخ میدهد ازان درس عبرت نمی گیریم .

کشتار وخونریزی درکشمیر وادامه جنگ در افغانستان از جمله تازه ترین مثال انها است جهان اسلام هیچ وقت درهیچ مسله متحد نشده است که باعث رفاه وارامی وظهورقوت مسلمانها باشد.

درحقیقت کسانیکه رهبریت کشورهای اسلامی را بدوش دارند انها اماده نیستند که از مقام خود به خواست های رعیت شان پائین ایند اینجاست که همه کشورهای اسلامی دوچار مسائل داخلی خود اند ، پس انها چگونه میتوانند که باهم متحد شده در مسائل خارجی خود بیاندیشند؟

بهر صورت این بر مسلمانها است که بخاطر بقای عزت وابروی خود دست به اقدام مثبت بزنند ، والبته این امر درصورتی عملی میگردد که حد اقل چند تن از رهبران کشورهای اسلامی از تدبیر کار بگیرند ودراین زمینه اقدام نمایند بخاطر کوشش اتحاد عالم اسلام نکات ذیل ضروری است .

۱- احیای فرهنگ اسلامی: دراحیای کلتور وفرهنگ اسلامی وفروغ ان بایدغور شود واز سیلاب فرهنك وکلتور غیر اسلامی باید جلوگیر گردد ، ودرمقابل تهذیب اسلامی محکم وپایدار گردد.

۲- نظام تعلیمی مشترك : مسله نظام تعلیمی مشرك از جمله مهمترین مسایل ارزنده جهان اسلام است وازاین طریق میتوان تهذیب واخلاق اسلامی را حفظ نمود .

۳- اسلحه سازی : این مسله را رهبران کشورهای اسلامی میتوانند حل کنند وبخاطر پیشبرد این کار تبادله زر ضروری است که انرا کویت ، ایران ، عربستان سعودی ، ودیگرکشورهای عربی وغیر عربی که نفت دارند پوره کرده میتوانند وبرای تمام این پروژه درعوض کارمندان جاپانی کارمندان زیاد درکشورهای اسلامی اند که از عهده این کار برامده می توانند واز نگاه وسایل وابزار هم کشورهای اسلامی خود کفااند مثلا عربستان سعودی بهترین اهن دارد .

٤- زبان مشترك : بخاطر اتحاد بیشتر جهان اسلام باید زبان مشترك را مروج نمایند والبته زبان عربی که لسان همه مسلمانها است میتواند لسان مشترك باشد .

٥- تاسیس یك اداره ثالث : مسلمانها باید باهم یك جا نشسته ادارهٔ را تاسیس نمایند که درصورت بروز اختلافات بتواند مسایل اختلافی انها را فیصله نماید ، ویا کارهای اداری ثالث را انجام داده بتواند واز انجمله نگزارند که درمیان دوکشور اسلامی جنگ دربگیرد ، این اداره مانند اداره اقوام متحده باشد اما هیچ یك کشور حق ویتو رانداشته باشد .

٦- هماهنگ نمودن مسلمانهای افریقا : تمام مسلمانهای جهان باید متحد شده کوشش نمایند که کشورهای افریقایی که مسلمانها در انجا اکثریت اند ، خود را ازژیر تسلط عیسوی های اقلیت رها نموده بدین ترتیب یك حکومت دلخواه شانرا تاسیس نمایند

۷- فراهم نمودن تحصیلات عالی برای جوانان : جوانان مسلمان باید در عوض که تحصیلات عالی شانرا درکشورهای غربی به پایان برسانند ، بهتر است که زمینه برایشان در کشورهای اسلامی مهیا گردد ، تا در انجا دریك ماحول اسلامی وپر از فضای اخلاق اسلامی تحصیل نمایند ، وبرای همه محصلین کشورهای اسلامی باید رهایشگاه های وجود داشته باشد تاباهم یکجا زندگی نمایند ، بدین وسیله از اثر فرهنگ بیگانه (غیر اسلامی) درامان بمانند .

۸- دایر نمودن کنفرانس های سران دول اسلامی : هر سال باید این کنفرانس ها به نوبه خود در پایتخت کشور مختلف دایر گردد ، که به همه کشورهای اسلامی نوبت برسد و باعث ایجاد احساس کم تری در دیگران نگردد .

۹- تاسیس یك کتابخانه جهانی : یك کتابخانه بزرگ جهانی یا در مدینه منوره ویا در ریاض باید تاسیس گردد ، وبخاطر سهولیت محققین رهایشگاه ومصارف انها از جانب اداره مشترك کشورهای اسلامی ویا از طرف رابطه عالم اسلامی پرداخته شود وبرعلاوه دارالترجمه بنا نهاده شود که کتاب های مهم اسلامی به زبانهای روسی ، فرانسوی ، انگلیسی ،ولسانهای دیگر ترجمه گردد.

۱۰- وظیفه علما: علمای جیدو نامور اسلام نظربه تقاضای وقت باهم جمع شوند وموضوعات سیاسی رابه صورت درست تعقیب وتحلیل نموده انرا در مقالات وبیانات خویش متفقاً در روشنی دین مبین اسلام در اورده به سمع دیگران برسانند .

آیا روسیی ته دمجاهدینو دهیئت . . .

بلنی په وړاندی دخپل مجاهد ملت په غوښتنواودموثرو جهادی ځواکو پر دریغ اوموقف خبری کوو. څومیاشتی دمخه چی دلومړی ځل لپاره دروسانو له خوا مسکو ته دمجاهدینو دهیئت دورتگ بلنه وړاندی شوی وه ، یو شمیرکمزورو جهادی ډلو پرته له دی چی ټول جهادی ځواکونه ددغه هیئت دورتگ یانه ورتگ اودخبروداجندا پر تړاکلواوپه‌بیلابیلو اړخونو غوراوبحث وکړی اوخپل مجاهد ملت ته په دغسی وخت کی چی روسان لادخپل مزدور رژیم ملاتړته دپخوا په شان دوام ورکوی روسیې ته دهیئت دورلیږلو اوله هغوی سره دخبرو اترو عواقب وسنجوی ، په ډیره بیړه دهیئت دلیږلو لپاره خپل چمتوالی وښود ، اودهیئت په ټاکلو یی پیل وکړ ، خو چی دخپل دغه عمل په وړاندی یی دافغانستان دمجاهد ملت په نمایندگی دځواکمنو جهادی ډلو شدید مخالفت ولید ، اوخپله کمزورتیا ورته په ډاگه شوه نود هیئت لیږلو جرائت یی ونکړای شوځکه ورڅخه منصرف اوچوپه خوله پاتی شول .

په دی وروستیو وختونو کی چی روسانو په دی اړه یو ځل بیا خپل وړاندیز وکړ ، نو هماغو کمزورواوغیر موثرو ډلو چی ظاهرًا ځانونه دجهاد په لیکه کی ولاړ بولی ، خودخپلی کمزوری عقیدی له مخی دالحاد اوفساد په وړاندی دافغانستان دمجاهد ملت دجهاد په حقانیت اوله دغی لاری ددین اووطن پر دښمنانو باندی په بریالیتوب عقیده نلری ، مسکو ته دخپل هیئت دلیږلو لپاره بیا چمتوالی وښود ، اوددغو ډلو په نمایندگی دیوی ډلی مشر څو ورځی دمخه دیومطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی اعلان وکړ چی دده ترمشری لاندی به یوهیئت په راتلونکو پنځلسو ورځو کی مسکو ته لاړ شی ،اوله روسانو سره به خبری اتری وکړی.

داځل بیا په مقابل کی دافغانستان دمجاهد ملت په نمایندگی ځواکمنو اوموثرو جهادی قوتونو پدغو شرایطو له روسانو سره دخبرو اترو کولو او هلته دهیئت له لیږلو سره خپل مخالفت څرگند اوهغه یی په کلکه رد کړی دی. داچی دغو ډلو چی اوس یی مسکو ته دخبرو اترو له پاره دهیئت دلیږلو هوډ کړی ، دوی به خپل هوډ ترسره کړای شی ،او که لکه دمخکی په شان به بیا ورته خپله بی ځواکی څرگنده اوله هیئت لیږلو څخه به منصرف شی ، اوکه پخپل دغه هوډ کی بریالی هم شی ، آیا له روسانو سره دخبرو اترو په ترڅ کی کړی پریکړی اوژمنی به په عمل کی پلی کړای شی ؟ اوددغه هیئت تگ‌به خاصه توگه ددوی حیثیت او په عامه توگه زموږ مجاهد ملت ته ضررو نه اوعواقب ولری ، داټولی هغه پوښتنی دی چی دوخت اوحالاتو په تیریدو اودحقایقو په رابرسیره کیدو سره پخپله ځوابیدای شی .

ترکومه چی خبره له روسانوسره دخبرو اترو په موضوع پوری اړه لری ، زموږ مجاهد ملت له دی سره مخالف نه دی چی یرغلگرو روسانو سره دی خبری نه کیږی ، خوددغو خبرو له پاره یو لړ شرایط لری ، چی هغه نه وی ، برابرله روسانو سره خبری اتری دخپل جهاد اواسلامی انقلاب دسترو هیلو او آرمانونو خلاف عمل گنی اوهیڅکله هم هغی ته نشی حاضریدای .

یوخو تر هغه چی روسانو له خپل مزدور رژیم سره له مرستی او ملاتړ څخه په بشپړه توگه لاس نه وی اخیستی خبری اتری ورسره امکان نلری .

بل داچی داخبری باید په کوم دریم گړی هیواد کی سرته رسیږی ، نه پخپله په روسیه کی داکارمجاهدین شرعًا اوعرفًا ناجایزگنی،همدارنگه روسان باید لومړی مجاهدین دافغانستان دمجاهد ملت واقعی نمایندگانو په توگه په رسمیت وپیژنی اوپه افغانستان کی خپلی هردول لاسوهنی پای ته ورسوی او....

خوتراوسه چی لادایو شرط هم نه دی برابرشوی نه یی د خپل مزدور رژیم له ملاتړ څخه لاس اخیستی دی اونه یی خپلو لاسوهنو ته خاتمه ورکړی ځنگه کیدای شی چی مجاهدین له دوی سره خبرو ته کښینی اوهغه هم ددوی په خپل هیواد کی.

دافغانستان مجاهد ملت چی روسان دخپلی خاوری اوعقیدی دښمنان گنی دهمدغو روسانواو هغوی دمزدورانو په وړاندی یی وسله وال جهاد پیل کړی اودادی اوس یی دلوی خدای (ج) په مرسته اودخپلی بی ساری قربانی په برکت دبری پولی ته رسولی دی ، موږ دوسله وال جهاد له لاری پخپل وروستی بری بشپړباور لرو ، ددین اووطن له دښمنانو سره هر ډول سازش مردود گڼو اوهغه دخپل اسلامی انقلاب له سترو ارمانونو سره جفا گڼو .

سه قریه و ۱۱ قرارگاه نظامی درولایت بغلان به تصرف مجاهدین درآمد

به اساس گزارش دفتر سیاسی شورای قوماندانان مجاهدین طی ۱٤ روز عملیات مسلسل موفق شدند تا قرای سالنگی ، طوراکه وتپه چهل بز مربوط ولسوالی های پلخمری وخنجان ولایت بغلان را از تسلط رژیم آزاد نموده و ۱۱ پوسته مستحکم نظامی را تصرف کردند.

خبرمی افزاید که در برخوردهای طی این مدت ۱۲۰ عسکرو ملیشه هلاك وده ها تن دیگر زخمی گردیده اند .

درخبر علاوه شده که در جریان این نبرد ها یك عراده تانك محاربوی یك دستگاه بی ام ۱٤ ومقدارزیاد مهمات ومواد خوراکی به غنیمت مجاهدین درامده است .

درین برخورد ها ازمجاهدین نیز ۷ نفر شهید و ۱۵ دیگر مجروح شده اند .

په روسیه کی ۲۰ میلیونه خلك داوسیدو ځای نلری

دپاکستان ورځپاڼه :

دنړیوالی سری میاشتی او سره صلیب منابعو ویلی دی چی راتلونکی ژمی کی به دروسیی تقریبًا ۱۵ لکه اوسیدونکی دیخنی، دخوراك ، پوښاك اودوا دنشتوالی له امله له منځه لاړ شی .

ددغه نړیوالو خیریه مؤسسو دمرستو یو کمپ تیره چهار شنبه داکتوبر په ۱٦ مه په مسکو کی پرانستل شو او نوری مرستی هم دوام لری .

دنړیوال سره صلیب یوه ویندوی ویلی دی چی دروسیی دټول نفوس شمیرتقریباً ۳۰۰ میلیونو ته رسیږی ، چی له هغی څخه ۲۰ ملیونه انسانان داسی دی چی دخپل ځان لپاره دسر پناه ځای او دځان دپټولو لپاره جامی اونور وسایل نلری اوپدی توگه ددی خلکو دژوند معیار دغربت له سطحی نه هم ډیر ټیټ دی .

جالبه خو داده چی دروسیی واکداران دخپلو ۲۰ میلیونه وږیو اوبی پناه خلکو دشتوالی سره سره په کابل کی خپل مزدور او تپل شوی رژیم ته هره میاشت تقریبا ٤۰۰ ملیونه ډالره مرسته رسوی .

دهند په اترپردیش ایالت کي هیبت ناکه زلزله

نوي ډیلي ، دمیزان ۲۸مه :

دهند په شمال کي د«ایموراکاشي » په سیمه کي دهیبت ناکي زلزلي له امله تقریبا ۵۰۰ کسان مړه او بي شمیره کسان نورټپیان شوي دي ، درارسیدلو خبرونو له مخي ددغي زلزلي له امله چي مرکز یي داترپردیش په ایالت کي دهمالیې دغرونو په لمن کي و زیاتي سیمي تر ځمکي لاندي خښې شوي ، اودغه سیمي ته تلونکي سرکونه دغرونو اولوړوتپو دړنگیدو له امله دترافیکو پرمخ تړل شوي دي.

ددي هیواد پوځ اوسرحدي پولیس زلزله ځپلیو ته دمرستي درسولولاري چاري لټوي دزلزلي ټکان دومره قوي وو چي دهند له نورو ښارونو پرته حتي په پاکستان ، اوایران کي هم دهغي اثر محسوس شوي .

خبرتیا

محترمو لوستونکو !

دافغانستان جهاد او هجرت دانسانیت په تاریخ کی دیو ځلانده ستوری حیثیت لری .

ددی جهاد وقایع اوحوادث باید دبشریت په تاریخ کی په زرینوتورو ولیکل شی .

دجهاد څو تنو خدمتگارانو فیصله کړی « دمخه تردی چی دحوادثو مصادر ورك شی اویازموږ دجهاد تاریخ دپردو په لاس ولیکل شی » دغه وقایع راټول اوثبت کړی ترڅو راتلونکو نسلونو ته په یادگارپاته شی.

ستاسو ورونو څخه هیله کیږی زموږ سره دي غټ هدف ته درسیدو لپاره همکاری وکړی،په جهاد او هجرت پوری متعلقه هره حادثه چی تاسی پخپله لیدلی اویادهغی په هکله پوره موثق معلومات لرئ ولیکئ ، اوموږ ته یی راولیږی.

که مو دجهاد اوهجرت په متعلق څه معلومات راټول کړی وی ، دجرائدو اومجلو اضافی کلیکسیونونه درسره وی ، هغه موږ ته داستفادی په خاطر دمناسب قیمت په بدل کی اویا په امانت ډول وسپاريُ .

زموږ آدرس :

دافغانستان جهادی

معاصردائرة المعارف

حیات آباد دوهم فیز -H-1

سرك (۱۱)

کور (۱۱۸) ، تلیفون نمبر (۸۱۰۱٦۵)

پسټ بکس (۱۳٦٤)صدر

پېښور

دهیئت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)

یونیورستي ټاون پیښور

تیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»

دهیواد په تودومورچلو کی

کابل :

دمیډیا درپوټ په اساس دمیزان په ۲۱ مه نیټه دکوه صافی مجاهدینو ددرنو وسلو په ډزو دبگرام په هوایی ډگر کی درژیم یوه هلیکوپټر الوتکه له منځه یوړه او په هوایی ډگر کی دگارنیزیون ودانی تاوانی کړی اودگارنیزون قوماندان یی د۲۰ کسو عسکرواو ملیشه سره وژلی دی.

ننگرهار :

دقوماندانانو شوراسیاسی دفتر رپوټ ورکړی چی مجاهدینو ددی ولایت نظامی مرکزونه لکه ثمرخیل ، ، فرقه ، هوایی ډگود پرکنډو پوسته او... دخپلو درنو وسلوتربریدلاندی نیولی دی ، اودښمن ته یی ځانی او مالی تاوانونه وراړولی دی.

رپوټ وایی چی دکابل جلال اباد لویه لاره دمجاهدینو دډزو له امله دترافیکو پر مخ بنده ده،اوپه لته بند کی دمیزان په ۲۳مه شپه کی درژیم دملیشه وو ۸ پوستی ویجاړی کړی دی اوددښمن ٦۵ تنه وژل شوی .

زابل :

په کویټه کی دمیډیا نمایندگی رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دمیزان په ۱۷ مه نیټه دزابل ولایت دمرکز دقلات ښار پر پوځی مراکزو برید وکړچی دتوره په نامه درژیم یوه پوسته فتحه او ددښمن ٤۰ تنه افراد یی ووژل ، همدارنگه مجاهدینو یو زیات مقدار وسله اومهمات په غنیمت ونیول.

لوگر :

دلوگر له ولایت نه میډیاته رپوټ رسیدلی چی ددی ولایت مجاهدینو ددی ولایت پر مرکز پل علم اوشاوخوا پوستو دمیزان په ۲۲ مه ددرنو وسلو ډزی وکړی چی دهغوی یوشمیر کلك سنگرونه یی ویجاړ اودوه عرادی پوځی لاری یی داور لمبه شوی همدارنگه درژیم په یوه پوسته کی دوسلو اومهماتو یوه ډیپو سوزیدلی اویو زیات شمیر ملیشه اوعسکر پکی وژل شوی.

کابل :

دکابل ولایت دشکر دری ولسوالی څخه میډیا رپوټ ورکړی چی مجاهدینو ددرنواوسپکو وسلوڅخه په استفادی سره ددی ولسوالی دقردشمن په سیمه کی درژیم دوه پوستی فتحه کړی اودرژیم یوزیات شمیر افراد یی مړه یاټپیان کړل ، مجاهدینو یو میل پی - کا ماشیندار ، ۱۱ میله کلاشینکوفونه ،یوه اندازه مهمات او لوژستیکی مواد ولجه کړی دی .

جوزجان :

به اساس گزارش میدیا ازجوزجان مجاهدین بتاریخ ۱۸ میزان طی حمله تهاجمی خویش یك قریه رابنام قریه لغمانی ها از لوث افراد رژیم پاکسازی نموده ۱٦ تن از افراد رژیم راهلاك و ۲۳ تن دیگر آنها را به اسارت گرفتند .

مجاهدین طی این عمیات ۳۰ میل اسلحه خفیفه ۸ میله ثقیله ودوعراده موتر نظامی رانیز به غنیمت گرفتند.